**لوړو زده کړو وزارت**

**ننګرهار پوهنتون**

**عامه اداره او پالیسی پوهنځي**

**انکشاف مدیریت څانګه**

# بریښنایي حکومتولي او د خدماتو پر وړاندې کولو یې آغیزې

**(د لیسانس دورې پایلیک)**

Ketabton.com

**ترتیب کوونکې: زین نورین « نیازي »**
**لارښود استاد: پوهندوي دوکتور فاروق جهان « مخلص »**

**کال: ۱۴۰۲لمریز**

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library

# مننلیک

د لوی او سپیڅلي خداي تعالی په نامه!

لکه څرنګه چې د لیسانس دوره د یوې لیکنې په بشپړېدو سره پای ته رسیږي، ما هم خپل مونوګراف او لیکنه (بریښنایي حکومتولي او د خدماتو پر وړاندې کولو یې آغیزې) تر عنوان لاندې بشپړه کړې، نو په لومړي قدم کې له خپل قدرمن لاربنود استاد پوهندوی دوکتور فاروق جهان « مخلص » څخه د زړه له تله مننه کوم. چې د معنوي څواک سربیره یې سپیڅلي مینه راسره شریکه کړه ګران استاد ته په راتلونکي کې د الله "ج" له لوی دربار څخه د لابریاوو او خوښیو غوښتونکی یم.

په دوهم قدم کې د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی له ټولو قدرمنو استادانو څخه نړۍ مننه کوم چې په څلور کلنه تحصلي دوره کې یې راسره نه ستړې کیدوونکې هلې ځلې کړي دي.

په دریم قدم کې له ګرانو او نازولو ملګرو څخه هم نړۍ مننه کوم چې تل یې د زده کړو په برخه کې راسره مرسته کړې او خپلې تجربې یې راسره شریکې کړي دي.

په درنښت

زین نورین « نیازي »

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

د لیسانس دورې پای لیک مې خپل پلارجان او خوږې مورجانی ته ډالی کوم، چې د زده کړې او تربیې لومړني استادان مې دي، او تل يې خپلو زده کړو ته هڅولی یم ، انګیزه يې راکړې او د خپلو تڼاکو اوخولو تویولو له امله يې د درس سربیره همت هم راکړی.

په دوهم قدم کې مې خپلو زړه ته رانیږدې ورونو او خویندو ته ، چې تل يې زما فزیکې او معنوې ملاتړ کړی او په هر ډول شرایطو کې يې زه خپل تحصیل ته هڅولی یم، ورپسې خپلې میرمنی ته چی زما د پرمختګ په پار يی په ځان ډیرې ستونزی وګاللې او بیا د علم او پوهې ټولو مینوالو ته ډالۍ کوم.

زین نورین « نیازي »

ketabton.com - The Digital Library

# تقریظ

د ننګرهار پوهنتون د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي محصل محترم زین نورین « نیازي » چې مونوګراف موضوع یې (بریښنایي حکومتولي او د خدماتو پر وړاندې کولو یې آغیزې) ده، د خپل توان،امکاناتو او استعداد مطابق په نوموړې موضوع کې مونوګراف په درسي حال کې تکمیل کړه. چې په نوموړې موضوع کې پدې وخت کې د موضوع اړونده کتابونه او ماخذونه ډیر محدود دي. د معزز محصل زین نورین « نیازي » کورنۍ ته د مونوګراف د لیکلو او فراغت مبارکی وایم. او په آینده کې ورته د الله متعال څخه افغان ملت او دولت ته د مزید خدمت کولو توفیق غواړم.

په درنښت

پوهندوي دوکتور فاروق جهان « مخلص »

د عامه ادارې او پالیسۍ پوهنځی استاد

ketabton.com - The Digital Library

## لنډيز

حکومتولي د هغه پروسې څخه عبارت ده، چې موږ يې په ټوليزه توګه د ستونزو د حل لپاره استعمالوو او د خپلې ټولنې اړتياوې پورې پوره کوو. نو ځکه حکومتولې يوازې د حکومت د کړنو څخه بحث نه کوي، د کومو په واسطه چې حکومت خدمات ترسره کوي.
حکومتولي موږ ته د حکومت د هغو کړنو او تشويقونو په اړه هم بحث وړاندې کوي، د کومو له مخې چې حکومت د مدنې ټولنو برخه اخيستنه په حکومت کې او د خصوصي سکتور کارونه منظموي. دارنګه حکومتولی د دې دواړو سکتورونو د کړنو له ارزيابی او کنټرول څخه ، چې د حکومت په واسطه ترسره کيږي هم بحث کوي.
حکومتدارې يو پيچلی مفهوم دی، په کوم کې چې د دولت ساختماني جوړښت يا تشکيل، د پريکړې نيولو پروسه، د عملي کولو ظرفيت او دارنګه د خلکو او د حکومت د مامورينو ترمنځ اړيکې تر بحث لاندې نيول کيږي.
خدمات هغه پيژندل شوي کړني دي، چې د مشتريانو دضرورياتو د پوره کولو لپاره وړاندي کيږي، يا خدمات هغه کړني، ګټې يا رضايت دی چې د توليد د عرضې لپاره ترسره کيږي، يا هغه کړني دي چې د توليد د ليلام سره ارتباط ولري.
بريښنا يې حکومتولي د خدماتو پر ارايې باندې په مستقيم ډول سره اړيکه لري، دولتونه اوس کوښښ کوي چې د ښې حکومتولۍ معيارونو ته د بريښنايي حکومتولی په مټ سره ورسيږي. ځکه بريښنايي حکومتولي هغه څه دي چې دولتونو ته د خدماتو د وړاندې کولو اسانه لارې ورپه ګوته کوي. بريښنايي حکومتولي د خدماتو د ترسره کولو په برخه کې ډيره ګټوره او آغيزمنه ثابته شوې ده.
د بريښنايي حکومتولی پر مټ د خدماتو په ارايه کې شفافيت رامنځته کيږي، د وخت سپما رامنځته کيږي، ښاريانو خدمات پر مناسب وخت باندې سرته رسيږي، د دولتونو او افرادو سره د اقتصادي سپما په ترسره کولو کې کمک کوي. خلکو ته د ژوند په مختلفو ډګرونو کې مختلفي اسانتياوې برابروي. د بريښنايي حکومتولی په واسطه د خدماتو آرايه په ښه ډول سره مخته خي او د ښاريانو او مشتريانو رضايت ترلاسه کيږي.
خلک د بريښنايي حکومتولی د مختلفو ابزارو څخه د مختلفو هدفونو لپاره استفاده کوي. لکه د زده کړې لپاره، د تجارت او کاروبار لپاره، د امنيت او حفاضت لپاره، د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره، د دلتونو د عمومي ګټو د ترلاسه کولو لپاره، د وظيفي ترسره کولو او پيداکولو لپاره همدارنګه د دولتونو لپاره د شفافي رايې ورکونې او داسې نورو مواردو لپاره بريښنايي حکومتولي د وسايلو څخه استفاده کوي.
خلک اوس دې ته اړ نه دي چې د يو کوچني کار لپاره دکاغذ پرانۍ سيسټم مخته يوسي. ځکه چې د کارغذ پرانۍ يا بيروکراسۍ مخکينی سيسټم د خلکو وخت مصرفوی، مشکلات يې پيداکول او دزيات فساد لامل کيدل، خو د ۱۹۹۰ څخه وروسته دولتونو په ډيري چټکی سره د بريښنايي حکومتولی په لوري ګام اينې دي او د زيات هلو ځلو څخه وروسته اوس د بريښنايي حکومتولی د ابزارو څخه په استفاده اوس دولتي او شخصي خدمات ترسره کوي چې د پخوانيو سيسټمونو په پرتله ډير ازښتمن او کاميابه دي. داسې نه چې اوس نوره هڅه نه کوي په دې برخه کې ، بلکې د بريښنايي حکومتولی به برخه کې د لازياتو هلو ځلو لپاره کوښښ کوي چې نور هم د خلکو او ښاريانو همدارنګه دولتونو لپاره د خدماتو د آرايي په برخه کې اسانتياوې رامنځته کړي.

ketabton.com - The Digital Library

# لړلیک

## لومړي فصل
## د څیړني کلیات

سریزه ........................................................................................................ 1
د څیړني ستونزه................................................................................................... 2
د څیړني موخه..................................................................................................... 2
څیرنیزه پوښتنه .................................................................................................... 2
د څیړني فرضیه ................................................................................................... 2
د څیړني اهمیت.................................................................................................... 2
د څیړني میتودلوژي ............................................................................................. 3
تیرو لیکنو ته کتنه................................................................................................. 3

## دوهم فصل

## حکومتولي

د حکومتولی تعریفونه: ............................................................................................ 5
په حکومتدارۍ کې آغیزمن فکتورونه: ........................................................................... 7
ښه حکومتداري:.................................................................................................... 7
لومړی مبحث : د ښې حکومتدارۍ اساسي ېښې................................................................ 8
بریښنایي حکومتولي ............................................................................................ 9
د بریښنایي حکومتولی تاریخچه ................................................................................ 10
د بریښنایي حکومتولی جوړښت ............................................................................... 10
د دولت او خلکو اړیکه: (Government to Citizen) یا (G2C) ................................... 10
د دولتي ادارو خپل منځي اړیکي ( Government to Government) یا (G2G) .............. 10
د دولتي ادارو او خصوصي سکتور اړیکي( Government to Business) یا (G2B)........... 11
د دولت او دولتي کارکوونکو اړیکي( Government to Employees) یا ( G2E) ............. 11
بریښنایي حکومتولی ته اړتیا.................................................................................... 11
د بریښنایي حکومتولی آغیزي .................................................................................. 12
د بریښنایي حکومتولی سیاسي آغیزي ........................................................................ 13
د بریښنایي حکومتولی اداري آغیزي.......................................................................... 13
د بریښنایي حکومتولی اقتصادي آغیزي ...................................................................... 14

ketabton.com - The Digital Library

د برېښنايي حکومتولی ټولنيزي آغيزي ........................................ 14
څوک د برېښنايي حکومتولی څخه زيات اغيزمن کيږي ........................ 15
ښاريان......................................................................... 15
سياسي اشخاص ................................................................ 15
دولت ......................................................................... 15
عامه اداري ................................................................... 16
خدمات ........................................................................ 16
ډيموکراسي ................................................................... 16

## دريم فصل

## د برېښنايي حکومتولي آغيزه د خدماتو پر ارايه

د برېښنايي حکومتولی آغيزه د خدماتو پر ارايه ............................ 17
د برېښنايي حکومتولي تطبيق.................................................. 18
ټولنيز او سياسي اثرات ...................................................... 18
خدمات ....................................................................... 18
د خدماتو ډولونه............................................................... 19
عامه خدمات.................................................................. 19
شخصي خدمات ................................................................ 19
ارايه: ......................................................................... 21
د خدماتو آرايه ................................................................. 22
دولتي خدمات د کومو لارو په واسطه وړاندي کيږي.............................. 23
د برېښنايي حکومتولی وسايل: ................................................ 25
د برېښنايي حکومتولی لپاره بايد څه وسي: ..................................... 32
د برېښنايي حکومتولی تاثيرات د خدماتو پر آرايي باندي:......................... 33
الف: آسانه لاسرسی  خدماتو ته................................................. 33
ب: دولتي کړنو کي شفافيت...................................................... 33
ج: معلوماتو ته آسانه لاسرسۍ .................................................. 33
د: آرام.......................................................................... 33
ر: د مصارفو کمښت............................................................ 34
ز: چلنجي او په زړه پوري کار.................................................. 34
ح: ګډ حکومت.................................................................. 34

ketabton.com - The Digital Library

خ: اسانه عملي كوونه يا كيدنه........................................................................34
ذ: د فساد نه شتون ........................................................................34
ه: حساب كتاب درلودل........................................................................34
د بریښنایي حکومتولی په واسطه کوم خدمات ارايه کيږي: ........................................................................35
اول: عامه خلکو ته خدمات وړاندي کول ........................................................................35
دويم: ښه حکومتداري ........................................................................35
دريم: په ډيموکراسي کي پرمختګ........................................................................35
اول: E-filling (بریښنایي ډول سره ډکول) ........................................................................35
دوهم: د ټولني يوځاى والى........................................................................36
دريم: د بحران مديريت........................................................................36
څلورم: بریښنایي رايه ورکوونه (e- voting) ........................................................................36
بریښنايي حکومتولی داسي وسايل دولتونو او تجارتونو ته برابر کړي دي چي کولاى شى، په لږ وخت کي د خپل مشتريانو ........................................................................36
شپږم: اقتصادي معلومات........................................................................36
اووم: بریښنایي قانون جوړونه( E- rulemaking)........................................................................36
اتم: بریښنایي زده کړي( E- Learning) ........................................................................36
نهم: د معلوماتو ګړندی پيداکوونه:........................................................................37
لسم: بریښنایي پير اوپلور( E- sale) ........................................................................37
يوولسم: بریښنایي بانکداري( E- Banking)........................................................................37
دوولسم:بریښنایي بيل( E-Billing)........................................................................37
افغانستان او برېښنايي حکومتولي........................................................................38
د برېښنايي حکومتولی په برخه کي ترسره شوي کارونه........................................................................38
ستونزې او خنډونه ........................................................................40
مخابرات په افغانستان کې:........................................................................41
الف: لوړه بيه........................................................................42
ب: د ماليي اخيستل ........................................................................42
ج: ټيټ کيفيت........................................................................42
د: انحصاری پانګه اچونه ........................................................................42
پايله ........................................................................43
وړانديزونه........................................................................44
مأخذونه ........................................................................45

ketabton.com - The Digital Library

# لومړي فصل
# د څېړنې کلیات

## سریزه

حکومتولي د هغه پروسې څخه عبارت ده، چې موږ یې په ټولیزه توګه د ستونزو د حل لپاره استعمالوو او د خپلې ټولنې اړتیاوې پورې پوره کوو. نو ځکه حکومتولي یوازې د حکومت د کړنو څخه بحث نه کوي، د کومو په واسطه چې حکومت خدمات ترسره کوي. حکومتولي موږ ته د حکومت د هغو کړنو او تشویقونو په اړه هم بحث وړاندې کوي، د کومو له مخې چې حکومت د مدني ټولنو برخه اخیستنه په حکومت کې او د خصوصي سکتور کارونه منظموي. دارنګه حکومتولی د دې دواړو سکتورونو د کړنو له ارزیابی او کنټرول څخه ، چې د حکومت په واسطه ترسره کیږي هم بحث کوي.
حکومتدارۍ یو پیچلی مفهوم دی، په کوم کې چې د دولت ساختماني جوړښت یا تشکیل، د پریکړې نیولو پروسه، د عملي کولو ظرفیت او دارنګه د خلکو او د حکومت د مامورینو ترمنځ اړیکې تر بحث لاندې نیول کیږي. خدمات هغه پیژندل شوي کړني دي، چې د مشتریانو دضروریاتو د پوره کولو لپاره وړاندي کیږي، (Stanton) ، یا خدمات هغه کړني، ګټې یا رضایت دی چې د تولید د عرضې لپاره ترسره کیږي، یا هغه کړني دي چې د تولید د لیلام سره ارتباط ولري. (Marketing Association). دا چې خلک په خپل ژوند کې مختلف کارونه ترسره کوي، نو په غیر مستقیم ډول سره دی د یو چا لپاره خدمت ترسره کوي، که څه هم کیدای شي ددې لپاره ده ته د ګټې مناسبه اندازه رسیږي او یا هم معاش اخلي ، خو دا کار په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول سره خدمت بلل کیږي ، خو خدمات د ځانګړتیا وو پر اساس همدارنګه د وړاندي کوونکو پر اساس ، همدارنګه د کمپنیو پر اساس ، همدارنګه د سکتورونو پر اساس په مختلفو ډولونو ویشل شوي دي، چې موږ به دلته د ځینو څخه یادونه وکړو.
برېښنا یي حکومتولي د خدماتو پر ارایي باندي په مستقیم ډول سره اړیکه لري، دولتونه اوس کوښښ کوي چې د ښې حکومتولۍ معیارونو ته د برېښنايي حکومتولی په مټ سره ورسیږي. ځکه برېښنایي حکومتولي هغه څه دي چې دولتونو ته د خدماتو د وړاندي کولو اسانه لاري ورپه ګوته کوي. برېښنایي حکومتولي د خدماتو د ترسره کولو په برخه کې ډیره ګټوره او آغیزمنه ثابته شوي ده. د برېښنایي حکومتولی پر مټ د خدماتو په ارایه کې شفافیت رامنځته کیږي، د وخت سپما رامنځته کیږي، ښاریانو خدمات پر مناسب وخت باندي سرته رسیږي، د دولتونو او افرادو سره د اقتصادي سپما په ترسره کولو کې کمک کوي. خلکو ته د ژوند په مختلفو ډګرونو کې مختلفي اسانتیاوي برابروي. د برېښنایي حکومتولی په واسطه د خدماتو آرایه په ښه ډول سره مخته خي او د ښاریانو او مشتریانو رضایت ترلاسه کیږي.
خلک د برېښنایي حکومتولی د مختلفو ابزارو څخه د مختلفو هدفونو لپاره استفاده کوي. لکه د زده کړي لپاره، د تجارت او کاروبار لپاره، د امنیت او حفاضت لپاره، د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره، د دلتونو د عمومي ګټو د ترلاسه کولو لپاره، د وظیفي ترسره کولو او پیداکولو لپاره همدارنګه د دولتونو لپاره د شفافي رایي ورکوني او داسې نورو مواردو لپاره برېښنایي حکومتولي د وسایلو څخه استفاده کوي. خلک اوس دې ته اړ نه دي چې د یو کوچني کار لپاره دکاغذ پرانۍ سیستم مخته یوسي. ځکه چې د کارغذ پرانی یا بیروکراسۍ مخکینی سیستم د خلکو وخت مصرفوی، مشکلات یې پیداکول او دزیات فساد لامل کیدل، خو د ۱۹۹۰ څخه وروسته دولتونو په ډیري چټکی سره د برېښنایي حکومتولی په لوري ګام ایښی دي او د زیات هلو ځلو څخه وروسته اوس د برېښنایي حکومتولی د ابزارو څځه په استفاده اوس دولتي

ketabton.com - The Digital Library

او شخصي خدمات ترسره کوي چي د پخوانيو سيستمونو په پرتله ډير ازښتمن او کاميابه دي. داسي نه چي اوس نوره هڅه نه

کوي په دي برخه کي ، بلکي د بريښنايي حکومتولی به برخه کي د لازياتو هلو ځلو لپاره کوښښ کوي چي نور هم د خلکو او ښاريانو همدارنگه دولتونو لپاره د خدماتو د آرايي په برخه کي اسانتياوي رامنځته کړي.

### د څيرني ستونزه

د زياتي بيروکراسۍ شتون او د خدماتو کمزورتيا او ځنډ په زياته کچه سره په اداراتو کې د خدماتو وړاندې کول يا ارايه کول سخت کړې دي، نو ومې غوښتل چي ځان ته معلومه کړم چي بريښنايي حکومتولي تر کومه حده د خدماتو د ارايې په برخه کې د بيروکراسۍ کمولو او د خدماتو د ارايې په برخه کي ځنډ له منځه وړي.

### د څيرني موخه

بريښنايی حکومتولی په اداراتو کي د خدماتو پرارايې باندی مثبتی آغيزي لري، او بريښنايې حکومتولې د خلکو په ژوند کي ډيري آسانتياوې رامنځته کړې دي. د دي موضوع پر مټ د خدماتو په ارايه کي شفافيت رامنځته کيږي، د وخت سپما رامنځته کيږي، ښاريانو خدمات پر مناسب وخت باندي سرته رسيږي، د دولتونو او افرادو سره د اقتصادي سپما په ترسره کولو کي کمک کوي. خلکو ته د ژوند په مختلفو ډګرونو کي مختلفي اسانتياوي برابروي. د بريښنايي حکومتولی په واسطه د خدماتو آرايه په ښه ډول سره مخته خي او د ښاريانو او مشتريانو رضايت ترلاسه کيږي.

### څيرنيزه پوښتنه

بريښنايي حکومتولي د خدماتو پر ارايې باندي کوم تاثيرات لري او دا تاثيرات د بريښنايې حکومتولی په برخه کي څومره ګټور دې ؟

### د څيرني فرضيه

دا سي فکر کيږي چي د بريښنايې حکومتولی په کار اچول د ادارو د خدماتو په وړاندې کولو د فعاليتونو پر چټکتيا او موثريت او مثمريت باندي مثبت تاثير اچولی شي او تر زياته حده د فساد مخنيوی کيدلای شي.

### د څيرني اهميت

د دي موضوع په واسطه د بريښنايي حکومتولی تاثيرات په يوه اداره کي د خدماتو پر وړاندې کولو باندې معلوميږي او همدارنګه په دولتي ادارو کې د بريښنايي حکومتولی څخه د استفادې ګټي معلوميږي ، د بريښنايي حکومتولی لپاره د اداراتو ضرورتونه معلوميږي ، ترکومه حده ادارت عصری شوي دي او تر کومه حده يکښي د بريښنايي حکومتولی معيارونه پوره شوي دي.
د نوموړي موضوع په واسطه په ادارو کي د کړنو موثريت رامنځته کيږي ، د فساد مخنيوی کيږي او د خدماتو د چټکتيا باعث ګرځي.
د دي موضوع په واسطه زياته بيروکراسي له منځه ځي او د کارونو په اسانتيا کي مهم رول لوبوي .

ketabton.com - The Digital Library

دولتي عايداتو په راټولو کي زياته مرسته کوي او د دولت د پاليسيو په عملي کي زيات رغنده رول لري.
همدارنگه د دي موضوع په واسطه موږ کولای شو چي هغه ميتودونه يا لارې چارې معلومي کړو، چي په اوسنيو ادارو کې عملي شوي وي او هغه چي نه دي عملي شوي ، معلوم کړو.
په اداراتو کي د برېښنايي حکومتولی په وړاندي چي کوم خنډونه او موانع شته، معلوم کړو، او اوس مهال په اداراتو کي چي کوم عصري وسايلو يا ميتودونو څخه استفاده کيږي، معلوم کړو.
د نوموړي موضوع په واسطه کولای شو هغه ضرورتونه او اړتياوي مشخصي کړو چي د برېښنايي حکومتولی لپاره په ادارو کې د خدماتو د وړاندې کولو لپاره ورته ضرورت وي، او هغه چلينجونه چي د خدماتو په وړاندې کولو کي د برېښنايي حکومتولی مخه نيسي، راوباسو او هغه کړني چي دولتي چارو د خنډ او ځنډ سره مخامخ کوي ، چي کومې حل لارې برېښنايي حکومتولي ورته لري، معلومې کړو.
داچي برېښنايي حکومتولي د زيات ارزښت څخه برخمنه ده، او اوس وخت کې زيات هيوادونه يا ټول هيوادونه ورڅخه استفاده کوي، نو ددې ارزښت پوهيدولو لپاره دا موضوع د زيات اهميت څخه برخمنه ده همدارنگه په دې موضوع کې د خدماتو پيژندل ، د خدمات ارايه او دا چې کوم موضوعات د برېښنايي حکومتولی د خدماتو پر ارايې باندې تاثير لري او د ادارو د خدماتو په کيفيت کې پرمختگ راولي، نو هغه موضوعات موږ ته معلوميږي.

## د څيړني ميتودلوژي

په دې موضوع کي لکه څرنگه چي د برېښنايي حکومتولی تاثيرات په اداراتو کي د خدماتو پر وړاندې کولو باندې په نظر کې نيول شوې دې، نو دا چي دا موضوع کتابتوني ده چي پر اساس يې د مختلفو متنونو او کتابونو څخه استفاده شوې ، همدارنگه د مختلفو مقالو څخه چي په دې اړه وړاندې شوې دي، استفاده شوې ده او د مختلفو انټرنيټي ويبپاڼو څخه هم پکښي استفاده شوې ده.

## تيرو ليکنو ته کتنه

**1. E_ Governance for Improved Public Service Delivery. Raifia Naz. 2009**

**ميتود:** په نوموړی څیړنه کی د څیړونکی له خوا د Random Sampling ميتود څخه کار اخيستل شوی دی چی ۱۰۰ کسانو څخه په پينځه ساحو کی د برېښنايي حکومتولی په واسطه د خدماتو د وړاندی کولو په اړه پوښتنې شوی وی. په نوموړی مقاله کی برېښنايي حکومتولی اغيزی د خدماتو په ارايی باندی په دوو برخو ويشل شوی دی. اول - په خدماتو کی مثمريت : ۱- د اداری کړنو په اړه په صحی ډول سره ځواب ويل۲- پر وخت د معلوماتو رسول ۳- د غبرگون ځواب ويل ۴- رېښتنولي په خدماتو کې ۵- د خدماتو په ترسره کولو کې باور، او پوهه ۶- د رشوت د اندازې په کمولو کې د کمک او لاسته راوړني ۷- د مصارفو د اندازې په کمولو کې تاثيراو رول درلودل ۸- په کړنو کې شفافيت ، ترڅو خلکو ته هر څه په ښه ډول واضح وي. دوهم- مؤثريت: ۱- د خدماتو په ترسره کولو کې د مصارفو کموالی ۲- دخدماتو په ترسره کولو کی دغوره لارو چارو څخه استفاده ۳- د زياتی بيروکراسی په لمنځه وړلو کی رول ترسو کارونه په پوره روڼتيا او لگ وخت سره د کاغذ پرانی څخه جلا ترسره شی .

**2. E_ Governance and Developing Countries . Michiel Backus. 2001**

**ميتود:** په دغه راپور کی چی موږ ته د برېښنايي حکومتولی په اړه معلومات راکوی چی د برېښنايي حکومتولی په تعريف سره شروع کوی . وروسته د برېښنايي حکومتولی ماډل او بيا دمختلفی مقالی او متنونو څخه استفاده کوی. د ټيکنالوژی نظريی ويل شوی دی او په دی برخه کی دوی د SWOT اناليزيس ترسره کړی ده د پرمختگ کوونکو هيوادونو او وروسته يی هغه ستيفونه ذکر کړی دی چی برېښنايي حکومتولی ته ورسيږی .

ketabton.com - The Digital Library

بریښنایی حکومتولی دخدماتو پر وړاندی کولو باندی لاندی تاثیرات لری :۱ – دخدماتو موډل : خلک به ددولتی خدماتو څخه په ښه توګه اغیزمن کیږی او خدماتو ته لاس رسی اسانه کیږی . ۲ - د سامان الاتو او توکو ضرورت : خلک چی هر سه وغواړی ان که د شپی او یا د ورزی کولای شی چی ترلاسه یی کړی . هغه که خرسول ، رانیول ، معلومات غوښتل او یا نور وی . ۳- بشریی سرچینی : دکارکوونکو په عصری ډول روزل ، دخدماتو په ښه ډول ترسره کولو لپاره د کارکوونکو چمتو کول ،او د کارکوونکو په واسطه د انترنیت له لاری دخدماتو رسول ، ۴- امنیت : په بریښنایی حکومتولی کی په زیاته توګه د کمپیوتری سیستم څخه استفاده کیږی ، نو ځکه دامنیت په برخه کی زیاته ونډه لری او کولای شی هر ډول امنیتی حملی په ښه توګه مدیریت او مخه یی ونیسی – ۵- د معلوماتو اسانتیا : دولت ته دیره اسانه خبره ده چی وکولای شی په ښه توګه تر خلکو پوری معلومات ورسوی او هم کولای شی چی د خلکو څخه معلومات په هوسا توګه لاسته راوړی .

**3. Electronic Governance (E_ Governance) the committee of Ministers of the council of Europe. 2005**

**میتود:** لکه څرنګه چی په دی مقالی کی مختلف متونه دبریښنایی حکومتولی په واسطه د وزیرانو د کمیسیون په واسطه راخیستل شوی دی . نوځکه په دی څیړنه کی استفاده ترزیاته حده متنونو څخه شوی ده . نو دا څیړنه یوه کتابتونی یعنی مختلفی مقالی په کښی را اخیستل شوی دی، چی د مقالی په اخیر کی ذکر شوی دی . بریښنایی حکومتولی په دولتونو کی د خدماتو په برخه کی باید لاندی لاسته راوړنی ولری : ۱- دعامه سکتور دخدماتو قوی کول (چی سهم لرونکو جوابګویه وی ). ۲- په عامه خدماتو کی د کیفیت دښه والی څخه رضایت ترلاسه کول تر څو د عامه رضایت برخمن و اوسی . ۳- باید عامه صلاحیتونه او واک لرونکی د معلوماتواو خدماتو په ترسره کولو کی د بریښنایی حکومتولی او الاتو څخه استفاده وکړی . ۴- باید په بریښنایی حکومتولی کی د خدماتو او معلوماتو پروسه معلومه وی چی چیری ،څوک او څنګه یی ترسره کوی ،یعنی خلک په دی پوه وی چی د عامه خدماتو څخه استفاده اسانه شوی . ۵- د عامه بریښنایی خدماتو جوړښت او ترتیب باید داسی وی ، چی د خلکو غوښتونکی ضروریات یی پوره کړی وی . ۶- دبریښنایی حکومتولی په واسطه ترسره کیدونکی خدمات باید صحی ، منظم او په داسی بڼه وی چی عصری شکل ولری ، یعنی زاړه سیستمونه باید له منځه ولاړ شی او ځای یی نوی سیستمونه ونیسی . ۷- دبریښنایی حکومتولی په واسطه د خدماتو وړاندی کول باید دایمی او ډیره ساحه په بر کی ونیسی -. یعنی باید د یو خاص ، ځای او خلګو لپاره نه بلکی د زیاتو ساحو لپاره وړاندی کړل او ټول په مساویانه تو ګه باید ورڅخه برخمن شی

**4. ضیاءالاسلام شیراني. په افغانستان کې بریښنايي حکومتولي. ۱۳۹۶**

**میتود:** په دې څیړنه کې استفاده د زیاتو متنونو څخه شوې ده، ددې څیړنې میتود کتابتونې دی. او تر زیاته حده یې د بریښنایي حکومتولی تاثیرات پر خدماتو د مختلفو نورو مقالو څخه راخیستي دي. بریښنایي حکومتولي د خدماتو پر آرایي باندي لاندې تاثیرات لري: ۱- د وخت سپما: چې د ادارې او دولتي خدماتووړاندې کولو وخت سپما کوي. ۲- د روڼتیا تضمین : په ادارې چارو د شفافیت او کاغذ پرانې مخه نیسي. ۳- د دولتي مصارفو کموالی: کوم مصارف چې دولت پر کارکوونکو کوي ، زیات کارونه لږ خلک په لږ وخت کې ترسره کولای شي.۴- د بیروبار کموالی: په بریښنایي حکومتولی کې زیاتې چارې د انټرنیټ په واسطه ترسره کیږي، نو د زیات رفت آمد مخه نیسي. ۵- د فساد له منځه تګ: خلکو ته د دولت چارې په ښکاره ډول سره معلومیږی او خلک ورته لاسرسی په اسانی سره پیدا کوې، نو ځکه د زیات فساد مخه نیول کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

# دوهم فصل

# حکومتولي

حکومتولۍ نوې کلمه نه ده، بلکې دا کلمه د پیړیو پیړیو راهیسې په سیاسي مطالعاتو او د حکومتولی په مضمونو کې تر بحث او مطالعې لاندې نیول شوې ده، تاریخ په ګوته کوي چې د سترو تمدنونو پیل او جوړښت د حکومتولی سره تړلی دی. په لویدیځ کې د هر چا تر مخه پلاتو یا افلاتون (Plato-BC-424) د حکومتولی بحث ته لاره هواره کړه. هغه په خپل کتاب (The republic) کې د باچا د مسؤلیت او د باچاهی د بنې په اړه خبرې کړې دي.پلاتو وايي چې باچا باید تکړه فیلسوف وي، نوموړی باید په شفافه او هدفمنده توګه د هیواد چارې مخته یوسي. پلاتو د ټولنې نظم او ترتیب ته د باچا ځانګړې پاملرنه حتمي بولي. ددې کار لپاره باید ځانګړی قانون رامنځته کړي، قوانین باید په مؤثره توګه عملي شي، ترڅو له دې لارې په ټولنه کې ثبات، امن او ټیکاو رامنځته شي. د لویدیځ سیاسي جوړښت تر دیره بریده د پلاتو د ذکر شوو اصولو او بنسټونو څخه د حکومتولی د رامنځته کولو لپاره کار اخیستی دی چې پیړۍ په پیړۍ یې خپل آغیزمن سیر طی کړی دی. د لویدیځي حکومتولی بنسټ ایښودونکې د پلاتو وروسته هابس ، جان لاک ، روسو او حتی د مارکس نظریې په کې تر سترګو کیږي.

دې مفکورینو وکولای شول چې د خپلو سیاسي او فلسفي بحثونو په نتیجه کې د حکومتولی اساسي اصولو ته لاره پیدا کړي او هغه څه رامنځته کړي چې د حکومتولی ځانګړې دنده پرې نن ورځ راڅرخې. یوه خبره چې په تاریخي لحاظ د پورته مفکرینو ترمنځ شریکه ده، هغه داچې ښه حکومتولی د ډلییز یا ټولنیز فعالیت پایله ده، نه دا چې په انفرادي توګه ترسره کیدونکې عمل یا فعالیت وګڼل شي. د حکومتولی جوړښت کوم چې یوې ټولنې، ملت یا دولت خپل کړی دی، هغه د هغه ټولنې د اړتیاو او ضرورت پر اساس ترسره شوی دی. کیدای شي حتی په یوه هیواد کې د حکومتولی جوړښت له یوه ولایت یا ټولنیز جوړښت څخه تر بل پورې توپیر ولري. د حکومتولی جوړښت په دا وروستیو کې مخ پر پراخیدو دی. په ځانګړې توګه د حکومتولی کوم سیستم چې اوس په نړۍ کې مروج دی، دا سیستم د کرنې او صنعتي پر مختګ پر اساساتو ولاړ دی. کوم چې د رنسانس د دورې څخه راپیل شوی دی. په حقیقت کې د حکومتولی د ا نوی سیستم د رنسانس د دورې د زراعت او صنعت د پرمختګونو په اساساتو ولاړ دی. کوم چې د اتلسمې پیړۍ په دویمې نیمایي کې تر سترګو شو، په ځانګړي توګه کله چې د انګلستان (چارلس۱۹۹۱) د نوې عصر د حکومتولی بنسټونه رامنځته کړل. له دې وخت څخه دمخه د تمدنونو برخه د حکومتولی د نظام په جوړښت کې د ارزښت وړ ده، خو تر ځانګړې مطالعې لاندې نه ده نیول شوې. د جغرافیایي خنډونو له امله په پخوا زمانه کې د یوې سیمې د حکومتولی جوړښت او ترکیب په بله جغرافیه کې د احساس وړ نه وو. خو نن، د حکومتونو ترمنځ د جغرافیایي خنډونو په لمنځه تګ، د حکومتولی جوړښتونه یو له بل سره تړلي دي[1].

## د حکومتولی تعریفونه:

په ساده ژبه حکومتولي د پریکړې نیول په معنا ده، او یا دا چې د هغې پروسې څخه عبارت ده، چې نیول شوې پریکړې پرې عملي کیږي. ډیرو پوهانو حکومتولي په مختلفو لارو تعریف کړې ده.

د حکومتولی د تعریف په اړه د علماوو او ټولنو نظریې:

---

[1] نورعلي. څرګند. د سیمیزو حکومتونو اداره. دریم چاپ. صص.۴۸-۴۹

ketabton.com - The Digital Library

**الف: نړیوال بانک(۱۹۹۲)**

حکومتولي د صلاحیت ، کنټرول ، مدیریت او د حکومت د واک او کنټرول د پلي کولو یا عملی کولو څخه عبارت ده.

**اوسبورن او ګیبلر(۱۹۹۲)**

حکومتولي د هغه پروسې څخه عبارت ده، چې موږ یې په ټولیزه توګه د ستونزو د حل لپاره استعمالوو او د خپلې ټولنې اړتیاوې پورې پوره کوو. نو ځکه حکومتولي یوازې د حکومت د کړنو څخه بحث نه کوي، د کومو په واسطه چې حکومت خدمات ترسره کوي. حکومتولي موږ ته د حکومت د هغو کړنو او تشویقونو په اړه هم بحث وړاندې کوي، د کومو له مخې چې حکومت د مدنې ټولنو برخه اخیستنه په حکومت کې او د خصوصي سکتور کارونه منظموي. دارنګه حکومتولی د دې دواړو سکتورونو د کړنو له ارزیابی او کنټرول څخه ، چې د حکومت په واسطه ترسره کیږي هم بحث کوي.

**لانډلي میلز او سیرګیلدن (۱۹۹۲)**

حکومتدارۍ یو پیچلی مفهوم دی، په کوم کې چې د دولت ساختمانې جوړښت یا تشکیل، د پریکړې نیولو پروسه، د عملي کولو ظرفیت او دارنګه د خلکو او د حکومت د مامورینو ترمنځ اړیکې تر بحث لاندې نیول کیږي.

**پادرینکا(۱۹۹۶)**

وایي: ( حکومتدارۍ د یو سیاسي جوړښت له دوامداره صلاحیت او د هغه له کړنو څخه بحث کوي، د کوم له مخې چې دا سیاسي جوړښت خپل قدرت یا صلاحیت عملي کوي).

**فرانسیس فوکویاما(۲۰۱۳)**

د حکومتداری تعریف داسې کوي: حکومتدارۍ د حکومت د وړتیاوو څخه بحث کوي، چې له مخې یې قانوني لایحې جوړوي، او هغه عملي کوي. دارنګه خدمات عرضه کوي، پرته له دې، چې حکومت دیموکراتیک وي او که نه.

**روټ (۱۹۹۱)**

روټ د حکومتداری لپاره خپل یو ځانګړی تعریف لري: حکومتدارۍ عبارت د یوې ادارې د هغه چاپیریال څخه ده، چې په هغه کې خلک(ولس) له یو بل او له حکومتي ادارو سره خبرې اترې او راکړه ورکړه وکړې.[2]

یو تر ټولو اسانه تعریف د حکومتداری کیدای سي دا وي، چې حکومتدارۍ د هغه سیسټم څخه عبارت ده، چې له مخې یې قوانین، مسودې، پروسې،صلاحیتونه، معیارونه، حقوق، مسولیتونه، قدرت او د لیډرشیف ( مشرتابه) اړیکې له خلکو او اړونده ادارو سره نښلوي یا مطالعه کوي. حکومتدارۍ کیدای سې، په مختلفو بڼو تربحث لاندې ونیول سي: خصوصي سکتور حکومتدارۍ، نړیواله حکومتدارۍ، ملي حکومتدارۍ او سیمیزه حکومتدارۍ.

---

[2] نورعلي. څرګند. د سیمیزو حکومتونو اداره. دریم چاپ.. صص.۴۸-۴۹

ketabton.com - The Digital Library

لکه څرنګه چي حکومتداري د پريکړو نيول او د هغو د عملي کولو څخه عبارت ده، نو له دې امله د حکومتدارۍ په مطالعه کې د ټولو هغو خواوو مطالعه لازمي ده، د پريکړې نيول په پروسه کې آغيز لرې او دارنګه په ټولو هغو جوړښتونو رسمي او يا غير رسمي هم بحث کول لازمي دي، چې د پريکړې نيولو د عملي کولو په پروسه اغيز لري.

## په حکومتدارۍ کې آغيزمن فکتورونه:

په حکومتدارۍ کې حکومت د پريکړې نيولو په پروسه کې يو برخه يا جز دی، د نورو برخو ګډونوال د حکومتدارۍ د ښې يا اړوندې پريکړې سره توپير لري، د مثال په ډول په کليو او باندو کې د حکومت څخه پرته کيدای شي، د مځکو لوی مالکان(خانان)، مذهبي مشران، د بزګرانو اتحاديې، بزګران، انجوز ، تحقيقاتي ادارې، بانکونه او سياسي کړی کيدای شي د آغيزمنو برخو په توګه يادې شي. په ښارې يا لويو ښآرونو کې حالت لا زيات پيچلی کيږي. په ملي کچه د پورته ذکر شويو جوړښتونو يا کردارونو څخه ورهاخوا، رسنۍ نړيوالي ادارې يا کردارونه، مرستي ورکوونکي ادارې او دارنګه ګڼ شمير نور جوړښتنونه کيدای شي په نظر کې ونيول شي. چې کيدای شي د پريکړې نيولو په پروسه کې آغيز ولرې يا د پريکړې په عملي کيدلو کې کردار ولوبوې. د حکومت يا نظامي جوړوښتونو يا کردارونو پرته دا نور ټول جوړښتونه کيداې شي د مدني ټولنې په آډانه کې مطالعه شي. په ځينو هيوادونو کې د مدني ټولنو څخه پرته منظم جرمي ګروپونه ډلي کيدای سي د پريکړي نيولو په پروسه کې آغيزمن کردار ولري، په ځانګړې توګه په لويو ښآرونو کې.

دارنګه رسمي دولتي جوړښتونه يا ادارې دي، چې د پريکړې په عملي کولو کې نيغ په نيغه آغيز لري. په ملي کچه غيرې رسمي د پريکړې نيولو جوړښتونه يا غيري رسمي سلاکاران يا مشاورين کيدای شي آغيزمن کردار ولوبوي، يا کيدای شي منظمي غيري قانوني ډلي، لکه د مځکو مافيا د پريکړي نيول پروسه تر آغيز لاندې راولي. پورته ذکر شوي پريکړې يا آغيزي د اداري فساد د موجودتيا بيلګې دي، چې په ګڼو هيوادونو کې په ځانګړې توګه په افغانستان کې د حکومتدارۍ په هره برخه کې ترسترګو کيږي.

## ښه حکومتداري:

ښه حکومتداري د ټاکل شويو موخو په آغيزمنه او مثمره توګه ترلاسه کولو ته وايي، په ښه حکومتدارۍ کې د صلاحيتونو د استعمال مشروعيت موجود وي او د ښې حکومتدارۍ له لارې د حکومت مشروعيت ورځ تر بلې غښتلی کيږي. څوګه چې حکومتداري د ژوند له هرې برخې سره اړخ لري، له دې امله د حکومتدارۍ د ښه والي او بد والي د معلومولو لپاره وسايل يا لارې سختې دي، چې په ټوليزه توګه پرې حکم وشي. خو کله چې د حکومتدارۍ په پايله کې لاندې لاسته راوړني يا فعاليتونه په سمه توګه ترسره شي، موږ ويلای شو، چې په ښه څکومتدارۍ رامنځته شوې ده.

1 - د هيواد ملي حيثيت ساتل
2 - د کورني امنيت ساتل او ټولنيز نظم ته لار هوارول
3 - د عامه خلکو د رفا او بهبود لپآره سياسي، ټولنيزي او اقتصادي تګلارې جوړول
4 - پورته ذکر شوي يا جوړې شوې تګلارې عملي کول، د هيواد دننه ټولو خلکو ته په متوازنه يا مساوې توګه خدمات وړاندې کول.
5 - د حکومتدارۍ د فعاليتونو د ترسره کولو لپاره د سرچينو برابرول.

ketabton.com - The Digital Library

ښه حکومتدارۍ د شفافیت ، حساب کتاب او مشارکت د ارونو د احترام په معنا ده. ښه حکومتدارۍ دارنګه موثره او متوازنه وي. ښه حکومتدارۍ د قانون حاکمیت رامنځته کوي. ښه حکومتدارۍ د دې ضمانت کوي، چې سیاسي، ټولنیزي او اقتصادي پریکړې د خلکو په خوښه او د ټولنیز رضایت پر بنسټ نیول کیږي. او د پریکړې نیول په پروسه کې د ټولو خلکو ږغ ته احترام کیږي، په ځانکړې توګه د اسیب پذیرو، غیرب او د بغل ته شوو یا حاشیې د ښکیلو کسانو د غږ احترام لازمي بولې.

## لومړی مبحث : د ښې حکومتداری اساسې پېښې[3]

1 - اقتصادي،
2 - سیاسي،
3 - اداري

### لومړی مطلب : اقتصادي پېښي

اقتصادي حکومتدارۍ د هغو پریکړو د پروسو( تګلارو ) په معنا ده، چې د هیواد په اقتصادي فعالیتونو آغیز لري او دارنګه ددې اقتصادې فعالیتونو اړیکه له نورو اقتصادې اړیکو او بنسټونو سره آغیزمنه کوي. دا حکومتدارۍ په ځانکړې توګه په متوازن پرمختګ، غربت او د ژوند کولو په معیار آغیز ښندې.

### دوهم مطلب: سیاسي پېښي

سیاسي حکومتدارۍ عبارت د پریکړې نیولو د هغې پروسې څخه، چې په پایله کې یې پالیسی او تګلارې جوړیږي.

### دریم مطلب اداري پېښي

اداري حکومتدارۍ د پالیسیو د عملي کیدا څخه عبارت ده.

نو ویلای شو، چې ښه حکومتدارۍ عبارت د هغه پروسو او تشکیلاتو څخه ده، چې سیاسې تګلارې ټاکې، او د ټولنې او اقتصاد ترمنځ اړیکې جوړوي.

د ښې حکومتداری لپاره کلیدې ځانګړنې د سیاسې ارادې شتون او کارې ظرفیت وجود دی. سیاسې اراده د ښې حکومتداری د فعالیتونو خپلول او په قصدې توګه د ښې حکومتداری د ځانګړنو پاللو ته وایې. د کارې ظرفیتونو وجود هغه وخت رامنځته کیدای شي، چې مشرتابه یا لیډر شیف وکولای شی، چې سیاسي، بیوروکارتیک او نظامي جوړښتونه د ښې حکومتداری په لورې منظم کړي. د حکومتداری د ښه والې اندازه د هغې د کړنو یا فعالیتونو پر اساس ترسره کیږي. کله چې په دولت کې د ښې حکومتداری لپاره سیاسي اراده شتون ونه لري، دولت نه شي کولای د هیواد په کچه د ښه حکومتداې رامنځته کړي، چې په وروسته پاته هیوادونو کې لکه بنګلدیش ، اندونیزیا او ګنو نورو هیوادونو کې یې مثالونه تر سترګو کیږي. ښه حکومتدارۍ د ولسوالکی سره نیغ په نیغه اړیکه نه لري، بلکې د دې پرځای د حکومتداری اړیکه د حکومت د فعالیتونو سره نیغ په نیغه ده، چې آیا حکومت کولای شي ټاکل شوي موخې په موثره توګه ترلاسه کړي او که نه؟ د ښې حکومتداری مثال کولای شو د سنګاپور د هیواد د ورکړو، چیري نه یوازي سیاسې اراده د ښې حکومتداری لپاره شتون لري، بلکې ددې ترڅنګ وړ ظرفیتونه د حکومت په کچه موجود دي، چې کولای شي په موثره او مثمره توګه عامه خدمات وړاندې

---

[3] نورعلي. څرګند. د سیمیزو حکومتونو اداره. دریم چاپ. کندهار. صص.۵۳-۵۶.

ketabton.com - The Digital Library

کړي او ټاکل شوي موخې د هیواد په ګټه حاصل کړي. د بدې حکومتدارۍ تعریف له همدې ځایه کولای شو وضعه کړو، کله چې په دولت کې د ښې حکومتدارۍ د رامنځته کولو لپاره سیاسي اراده موجوده نه وي او دارنګه اړین ظرفیتونه د ښې حکومتدارۍ د رامنځته کولو لپاره په کاره وانه چول شي، موږ کولای شو، چې ووایو، چې په نوموړي هیواد یا دولت کې بده حکومتداري موجوده ده.

د بدې حکومتدارۍ شتون په هیوادونو کې د دولتونو د ماتیدا یا راپرځیدلو سبب کیدای شي. د سینګاپور د هیواد لومړي وزیر ګوچک ټونګ د سنګاپور د ښې حکومتدارۍ درې فکتورونه داسې په ګوته کړي دي: د حساب کتاب، شفافیت شتون، له اوږده مهاله ټولنیز مشارکت  او بلاخره ټولنیز عدالت. په ښه حکومتداري کې پلانونه ، ستراتیژۍ او تګلارې د اوږدمهاله  د پاره جوړیږي، نه داچې د لنډ مهاله لپاره د خلکو د خوشحاله کولو د پاره د لنډ مهاله پلانونو او تګلارو ته پاملرنه وشي.ددې لپاره چې دا کار ترسره شي، موږ د حکومت په سر کې د غښتلي لیډرشیف شتون ته اړتیا لرو،  کوم چې باید روښانه لرلید یا ویژن ولري او روښانه او ښکاره راتلونکې ته سمه لار.

## بریښنايي حکومتولي

په اوس مهال کې د کوم مهم فرست چې موږ ته د عصري عرتباطی او اطلاعاتي ټکنالوژۍ له کبله په لاس راغلی، هغه له دغې ټکنلوژۍ څخه په ښه حکومتولۍ کې کار اخیستل دي. د ټولنې د چارو په اداره کولو کې له همدې نوې ټکنالوژۍ څخه کار اخیستل د بریښنايي حکومت رامنځته کولو لامل ګرځي. موږ د ټکنالوژۍ په واسطه کولی شو، د دولتونو سیستم داسې جوړ کوړ چې ټولو ته په اسانه د لاسرسي وړ او ځواب ویونکی وي. د دولتونو لپاره د ښې حکومتولۍ  یو اړخ هم بریښنايي حکومتولي د حکومتونو لپاره د مدیریت او د چارو د تنظیم هغه نوې تګلاره ده چې له نوې ټکنالوژۍ څخه په کار اخیستلو سره عملي کیږي. په اوسني عصر کې د مختلفو لاملونو له کبله دولتونه دې ته اړ شوي چې د ټولنې په اداره کولو کې له نویو لارو چارو کار واخلي. همدارنګه د ټولنې او خلکو هیلې هم له دولت څخه ورځ تر بلې تیازتیږي، دوی غواړي کارونه یې په دولتي ادارو کې پرته له ځنډه او په ښه توګه ترسره شي.

دوی نه غواړي په قطارونو کې د یوه لاسلیک په موخه ساعتونه ودریږي، دوی نه غواړي د یوه کوچني کار لپاره په ورځو وزغلي؛ نو ددې ټلو له پاره دولتونه اړ دي چې په خپله حکومتولي کې د نوي له نوې ټکنالوژۍ څخه کار واخلي او د هغې په مرسته د خپلو خلکو او ټولنې کارونه پرته له ځنډه په ښه توګه ترسره کړي. بریښنايي حکومتولي د دولتونو له لوري د هغو شرایطو برابرولو ته وايي چې له مخې یې دولتي ادارې د اوونۍ اووه ورځې، شپه او ورځ د خپلو خلکو په چوپړ کې وي. بریښنايي حکومتولي دې ته وایي چې حکومتونه، دولتي امورو ته د خلکو او مختلفو ټولنو لپاره د ساده او آسانه لاسرسي په موخه له نوې ټکنالوژۍ څخه کار واخلي. [4]

بریښنايي حکومتولي د حکومتولۍ هغه اړخ دی چې پرته له کومې واسطې خلکو ته یو شان خدمتونه وړاندې کړي. بریښنایي حکومتولي له نوې ټکنالوژۍ څخه په کار اخیستلو سره خلکو ته د ښو خدماتو وړاندې کول او د دولت دننه بیا جوړوني  ته وایي. بریښناني حکومت یوازې دا معنا نه ورکوي چې د هر مامور یا دولتي کارمند بر میز دې یو کمپیوټر ایښی وي، بلک بریښنایي حکومتولي موخې پالي، د دولتونو له لورې خلکو او ټولنې ته د امورو او چارو په ترسره کولو کې بنسټیز تغییرات غواړي. په یوه هیواد کې د نوې ټکنالوژۍ وده او د اطلاعاتو په برخه کې د خلکو او مختلفو ادارو د غوښتنو تغییر او زیاتوالی هغه څه دي چې دولتونه د بریښنايي حکومتولی لپاره اړ کوي. بریښنایي حکومتولي خلکو ته په لوړ کیفیت د خدمتونو وړاندې کولو کې ښه رول لزي او ډیرې آسانتاوې رامنځته ککوي. خلک کولی

---

[4] ضیاءالاسلام . شیراني . په افغانستان کې بریښنايي حکومتولي.صص ۱-۵.

ketabton.com - The Digital Library

شي یوازې په څو ساعتونو کې هغه څه ته لاس رسی‌ و مومي چې پخوا به یې په ورځ یا په اوونیو انتظار ورته کاوه.

## د بریښنایي حکومتولی تاریخچه

د بریښنایي حکومتولی یا (e-Gov) کلمه په ۱۹۹۰ په آخیرو کې رامنځته شوه، مگر په دولتوني سازمانونو کې د کمپیوټر ټکنالوژۍ استعمال بیا د کمپیوټر د تاریخچې د شروع ته رسیږي. یو تاریخي اثار چې د کریمیر په ناخه شخص د IT استعمال په دولت کې تر نامه لاندې جوړ کړی وو په ۱۹۷۰ کلونو کې چې دغه اثر د معلوماتي ټکنالوژۍ استعمال په دولتي چارو کې څرگندوي. مگر اوسنی بریښنایي حکومتولي کلمه د دولت څخه دباندې استعمال باندې هم اطلاق کیږي او بحث کوي، لکه د ښآریانو ته د خدماتو وړاندې کول.

هغه پخوانۍ د بریښنایي حکومتولی کمپیوټرې موضوعات لکه د آفیس استعمال او نور د اوسنیو څیړنو اړونده اوس نه دي، بلکې په اوس وخت کې د بریښنایي حکومتولی په اړه څیړنیز موضوغات یا داخل موضوعات لکه تصمیم نیونه، بریښنایي خدمات، دولتي او خصوصي خدماتي پروسې او نور داخل دي. لکه څرنګه چې د E-Commerce یا بریښنایي ډول سره تجارت رامنځته شو، همداشان بریښنایې حکومتولي هم د انټرنیټ په پرمختګ سره رامنځته او زیات استعمال شوه. خو بریښنایي حکومتولي یوازي په انټرنیت پورې نه ده تړلي ، په اوس وخت کې د بریښنایي حکومت ولي په برخه نوي نوښتونه راغلي چې د بریښنایي حکومتولي په واسطه اوسني ترسره کیدونکي خدمات یوازي ماسیوا د انټرنیټ څخه هم ترسره کیدای شي، لکه، د ډاټابیس استعمال، بریښنایي تذکیرې اونور.. د بریښنایي حکومتولی د پرمختګ یا په کار اچولو لپاره په اوسني وخت کې زیات کنفراسونه او اثار وړاندې شوي دي، چې ترڅو د بریښنایي حکومتولی ته پرمختګ او خپل خدمات آسانه کړي. مثال لکه G8 telecities and the association of municipalities conference او همدارنګه مختلف جورنالونه لکه د برقي حکومت د څیړني نړیوال جورنال (IJEGR) ، د بریښنایي حکومت جورنال( EOG) .

مختلفی سروې ګانې یا څیړنې د مختلفو نړیوالو څیړنیز مرکزونو او یا عالمانو په واسطه ترسره شوي دي، چې د بریښنایي حکومتولی تاثیرات د خدمات پر پرمختګ باندې وڅیړي. مختلف کتابونه او لیکچرونه د بریښنایي حکومتولی په اړه د مختلفو سازمانونو او انستیټونو په واسطه ترسره شوي دي،

## د بریښنایي حکومتولی جوړښت

د ترسره شوو مطالعاتو له مخې د بریښنایي حکومتولی په برخه کې د لاندې څلورو برخو اړیکې مهمې دي. دا څلور برخې د بریښنایي حکومتولۍ هغه مهمې څلور ستنې ګڼل کیږي چې ټولې هغه اړیکې په کې رانغښتل شوې، چې د بریښنایي حکومت روح بلل کیږي. دا څلور برخې موږ ته ښیې چې د بریښنایي حکومتولی له لارې کومې برخې له خلکو سره اړیکې رامنځته کوي.

### د دولت او خلکو اړیکه: (Government to Citizen) یا (G2C)

په بریښنایي حکومتولی کې تر ټولو مهم او پراخ اړخ د دولت او خلکو ترمنځ متقابلې اړیکې دي. په دې برخه کې په الکترونیکي بڼه د خلکو څخه دولت اطلاعات ترلاسه کوي او بیرته په همدې طریقه خلکو ته د دولت له لوري خدمات وړاندې کیږي.

### د دولتي ادارو خپل منځي اړیکي ( Government to Government) یا (G2G)

په دې ډول تعامل او اړیکو کې هغه مختلفې اداري چې اطلاعاتو ته اړتیا لرې کولی شي د نورو دولتي ادارو سره له شته اطلاعاتو څخه ګټه واخلي او خلکو ته په سرعت سره خدمات وړاندې کړي.

ketabton.com - The Digital Library

**د دولتي ادارو او خصوصي سکټور اړيکې( Government to Business) يا (G2B)**
د دولت او خصوصي سکټور ترمنځ اړيکه هغه اړيکه ده چې د برېښنايي حکومتولۍ په برخه کې يې نظر نورو ته ډير پرمختګ کړی دی. په دې برخه کې د ماليې ورکړه، د اطلاعاتو ترلاسه کول، د مختلفو تسهيلاتو وړاندې کول او د جواز ترلاسه کولو لارې چارې، ټول هغه څه دي چې د دولتي ادارو او خصوصي سکټور د تعامل په برخه کې د پام وړ بلل کيږي.

**د دولت او دولتي کارکوونکو اړيکې( Government to Employees) يا ( G2E)**
د کارکوونکي ضخصي معلومات او د دوتلي ادارو او کارکوونکو ترمنځ نور د اړيتا وړ معلوماتو تبادهله په دې برخه کې راتلی شي.

## برېښنايي حکومتولی ته اړتيا

دا چې د وخت په تيريدو سره د انسنانو په فکرونو کې تغير رامنځته کيږي ، نو همدا شان د انسانانو په غوښتونو کې هم د وخت په تيريدو سره تغير رامنځته کيږي او د ټولني او دولت څخه غواړي چې کارونه په ډيره ښه بڼه او جلا بڼه چې د خلکو لپاره پکښې اسانتيا رامنځته شوې وي، ترسره کړي. نو حکومتونه اړدې چې خلکو لپاره خپل خدمات نور هم په ښه بڼه ترسره کړي ، نو ځکه دوی د برېښنايي حکومتولی څخه استفاده کوي. چې برېښنايي حکومتولي خلکو ته ددې چانس ورکوي چې د دولتي او همدارنګه د شخصي خدماتو څخه اسانه او موثره توګه استفاده وکړي او خپل مشکلات په اسانی سره تر دولت پوري ورسوي. دا چې ولي بايد يو دولت برېښنايي حکومتولي په ځان کې راولي يا په خپل دولت کې برېښنايي حکومتولي عملي کړي او يا هم کار ترې واخلي په لاندې ډول به بحث باندې وکړو:

**۲۴/۷: د خدماتو موډل**

سيستمونه بايد په نوې معيار سره برابر کړل شي، تر څو خلک په اونۍ کې اووه ورځي ، شپه او ورځ د دولتي خدماتو څخه ګټه واخلي. نو دولتونه اړدي چې د برېښنايي حکومتولي په واسطه خپل خدمات او معلومات خلکو ته په اوونۍ کې اووه ورځي د شپې او د ورځې وړاندې کړي، ترڅو خلک ورڅخه استفاده وکړي. خلک چې کوم څه غواړي بايد په هغه وخت په اسانی سره ورته اماده وي، يعني که چيري يو ضروري کار د شپې په مابينځ کې هم يو چاته پيښ شي ، نو دولت بايد خپل خدمات آماده ورته ولري او د نوي برېښنايي سيستمونو او حکومتولی په واسطه دولت کولای شي، چې خپل دارنګه خدمات خپلو ښاريانو ته وړاندې کړي. مثال د ټيليفون پر ځای د ا-ميل يا همدارنګه د مسينجر کارول او بايد لاسرسی ورته پر وخت باندې وشي. همداشان د فکس او فوسټ پرځای بايد د نوې سيستمونو څخه استفاده وشي ترڅو خلک ارتباطات په ښه شکل يو د بل سره ولري.

**بشري سرچيني[5]**

پخوانی ډول سره د بشري سرچينو روزل او يا هم د بشري سرچينو څخه د پخوا په توګه کاريګر کار اخيستل د عصري نړۍ خواهش نه دی او بايد کارمندانو ته په نوې بڼه روزنه او د اوسنيو برېښنايي آلاتو لکه انټرنيټ ، کمپيوټر او نور هغه آلات چې په دولتي يا اداري سطحه د کارمندانو لپاره ضروري وي ورکول ترڅو کارمندان خدمات په نوي او انلاين بڼه ترسره کړي. کارمندان بايد د نوي سامان آلاتو څخه راضي و اوسي او د خپلي وظيفي په جريان کې د کار په وخت کې استراحتمند و اوسي، او هغه پخواني

[5] مايکل بکاس. برېښنايي حکومتولي او پرمختيايي هيوادونه.صص. ۷-۹.

ketabton.com - The Digital Library

آلات او عادتونه چي ده به د وظيفي په جريان کې ترسره کول بايد په نوي مواردو او وظيفوي کارونو او نورمونو باندي واوړي.

بشري قوه بايد خلکو ته خدمات په ډيره ښه او نوي بڼه ترسره کړي ترڅو مشتريان هم په دولتي او هم په شخصي سکتور کې ورڅخه راضي و اوسي. خپل کارکوونکي بايد IT په مهارتونو باندي سمبال او بريښنايي آلات ورپيژندل شوي وي. دولت بايد د شخصي سکتور سره په مقايسه کې ښه کاري قوه ولري ترڅو وکولای شي د ننی انټرنيټی نړۍ غوښتنی او خواهشات ورپوره کړي.

**امنيت**

لکه څرنګه چي کمپيوټري سيستمونه د بهرني حملو په وړاندې حساس دي، دارنګه دولتونه هم خپلې ديرې کليدي کړنې( معلومات، پروسې، تبادلې) د انټرنيټ پر مټ ترسره کوي، نو هغه هم د بهرنيو حملو په وړاندې ډير حساس دي، او کيدلای شي چي د دوی معلومات په هوسا ډول سره هيک يا تر حملې لاندې راشي، چي دولت ته زيات تاوان او زيان رسولی شي، نو ددې لپاره ضروري ده چي دولت نوي ICT سره ځان بلد او د بريښنايي حکومتولی د نوي ابزارو او طريقو څخه ځان خبر او په ځان کې راولي. دا ساتنه د مختلفو ابزارو په وسيله تر سره کيدلای شي، لکه د ويروس ضد پروګرامونه، فايروال ګيټوې، د فاسورډ ټکنالوژي او نور امنيتي مواد چي کولای شي، دولتي معلومات حفظ کړي.

**محروميت**

هغه معولومات چي دولت يې خلکو ته ورکوي، چي د خلکو او تجارتونو په باره کې دي، کوم چي اکثريت وخت د کمپيوټري سيستمونو په واسطه خپريږي( ځينې وخت پر ورقو باندې هم ترتيب شوي وي). مګر کله داسې هم پيښيږي چي ځيني معلومات عامو خلکو ته ورکول تاوان لري، خلکو ته ضرر رسوي، نو دولت هغه معلومات پټ ساتي. دولت بايد د خلکو شخصي معلومات پټ وساتي، نو دغه معلومات بايد هغه دلې چي د دولت څخه جلا کار کوي بايد محرم شي، نو د معلوماتو د محروميت لپاره مختلفو دولتونو مختلف قوانين وضعه کړي دي، نو ددې معلومات لپاره دا ضروري چي دولت بريښنايي حکومتولي په ځان کې راولي او ګټه ترې واخلي.

**IT ځانګه**

د بريښنايي حکومتولی په عملي کولو سره دولتونه اړدې چي د IT خدماتو څخه استفاده زياته کړي، د IT د برخي پر مخ بيولو لپاره دولتونه اړ دي چي داسې سيستمونه په کار واچوي ، تر څو د IT پر مټ خپلې کړنې ترسره کړي، سافټويرونه جوړ کړي، هارډوير نوي سيستمونه رامنځته کړي او نوي ساختمانونه رامنځته کړي.

## د بريښنايي حکومتولی آغيزي

د بريښنايي حکومتولی ستراتيژيکي آغيزي او تاثيرات دا دي چي د ټولو ډلو لپاره که دولت دی، که خلک دي او که تجارتونه دي، غواړي حکومتداري ورته اسانه او تقويه کړي. د ICTs استعمال کولای شي چي دغه ټولي ډلې سره ونښلوي او ددوی کړنو ته پرمختګ ورکړي. د بريښنايي حکومتولی استعمال دا معنا لري، چي ښه حکومتداری ته وده او هڅونه کوي. ځکه د بريښنايي حکومتولی په واسطه موږ کولای شو چي ښه حکومتولي په اسانی سره راولو ، د بريښنايي حکومتولی آغيزه پر دولت او دولتي

ketabton.com - The Digital Library

چارو باندې دغه ده ، ترڅو ښه حکومتولی ته لار پیدا کړي. ښه حکومتداري خو دا معنا چې د یو هیواد اقتصادي، اداري او سیاسي چارې په ښه ډول سره په ټولو برخو کې ملي او محلي سطحه ترسره شي. [6]

**د بریښنایي حکومتولی سیاسي آغیزې**

1 - خلک د دولت د کړنو څخه راضي وي

کومي کړني چې دولت د بریښنایي حکومتولی پر مټ ترسره کوي، نو خلک ورته په اسانی سره لاسرسی پیدا کوي. کوم خدمات چې دولت خلکو ته د انترنیټ او نورو بریښنایي وسایلو په مرسته وړاندې کوي ، تر هغه چې خلک یې په خپل لاس یا د کاغذ پرانی په واسطه ترسره کوي، ډیر جلا او توپیر لرونکي دي، د بریښنایي وسایلو په واسطه ترسره کیدونکي کړني ډیري اسانه، ژر او پروخت ترسره کیږي. نو ځکه ورڅخه خلک راضي وي.

2 - په سیاسي پروسو کې د خلکو ونډه:

د بریښنایي حکومتولی په واسطه دولت کولای شي چې په سیاسي پروسو کې خلک ژر داخل او خلکو ته د تصمیم نیونې برخه ورکړي او یا یې د سیاسي جریاناتو څخه په لنډ وخت کې خبر کړي. مثال کله چې رفرنډوم کیږي، نو د بریښنایي وسایلو په مرسته کیدلای شي، چې په ډیره اسانی سره د زیاتو خلکو غوښتني وغوښتل او وکتل شي.

3 - په رایه ورکونه کې د خلکو پراخ او سانه ګډون

کله چې رایه ورکوونه د بریښنایي حکومتولی د ابزارو په واسطه ترسره کیږي، نو په لږ وخت کې زیات شمیر کسان کولای شي، چې بې له کوم تکلیف څخه رایه اچونه وکړي او د خپلو رایو نتیجې په دیرې اسانی سره ووینې.

**د بریښنایي حکومتولی اداري آغیزې**

1 - اداري خدماتو اسانتیا: کوم اداري خدمات چې د ادارو او کارمندانو له خوا څخه و خپلو مشتریانو یا ګډونوالو ته وړاندې کیږي ، د پخواني سیستمونو په پرتله د بریښنایي حکومتولی په واسطه په ډیره اسانی سره کولی شي چې ترسره یې کړي، د پخوانی پیچلي او مغلقو بیروکراتیکو کړنلارو پر ځای د نوو بریښنایي وسایلو په واسطه ترسره کیدونکي خدمات د مشترایانو او ښآریانو لپاره ډیري اسانتیاوې برابري کړي ترڅو خلک اداري مرحلي په ډیره اسانی سره پرته له ځنډه څخه خپل کار ترسره کړي. ډاټابیس سیسټم ، د بریښنایي تذکیرو ویش، د بریښنایي پاسپورټونو جوړول او نور هغه موضوعات دي چې اوس یې ښآریانو او عامه خلکو ته زیاتې اسانتیاوې برابري کړي دي.

2 - د کارکوونکو رضایت د خپلو وظیفو څخه: کومي وظیفي چې په پخوانیو سیستمونو باندې ترسره کیدلي چې اوس په عصري نړۍ کې د بریښنایي حکومتولی بر مټ ترسره کیږي، د کارمندانو د رضایت سبب شوي دي، چې پخوا وختونو کې د کاغذ او پوست په واسطه یو خبر تلی او راتلی ، خو اوس د ای-میل ، سایټونو او نورو شبکو په مرسته ترسره کیږي چې کارمندانو د خپلي وظیفي څخه رضایت ښیي.

3 - د کارمندانو ترمنځ د همکارۍ د کچې زیاتولی: د بریښنایي حکومتولۍ د وسایلو په واسطه په ادارو کې کارمندان کولای شي، چې په اسانۍ سره یو د بل سره اړیکه ټینګه کړي، چې د مختلفو بریښنایي

---

[6] د اروپا کنسیل. بریښنایي حکومتولی.صص. ۸-۱۱

ketabton.com - The Digital Library

الاتو لکه کمپیوټر، انټرنیټ، سایټونه، اپلیکیشنان لکه وټس آپ، ای- میل او نورو په واسطه. دوی د دې وسایلو پر مټ په دیره اسانی او لږ وخت کې یو د بل سره اړیکه ټینګه وي، یو د بل معلوماتو څخه خبریږي او یو د بل په کارونو کې مرسته او کمک کولای شي. نو ځکه د په یوه اداره کې د همکارانو ترمنځ په یوه اداره کې همکارۍ زیاته ترسترګو کیږي.

**د بریښنايي حکومتولۍ اقتصادي آغیزې**

1 - د مالیاتو په راټولولو کې اسانتیا:

په کومو لارو چې پرمخ وده هیوادونو کې مالیات راټولیږي ، ډیر داسي بریښي چې مشکلات او ستونزې پکښې کې وي، خو د نوی بریښنايي حکومتولۍ د ابزارو په واسطه دولتونه کولای شي مالیات پرته له کوم داخلي مشکل څخه په دیره اسانۍ سره راټول کړي. د مالیاتو لپاره د ټولو مالیه ورکوونکو ثبت او راجستر، د ټولو لپاره د خاص ډاټابیس شتوالی، د بانکي اویزونو په مرسته سره د مالیاتو جمع کول هغه وسایل دي چې د دولت سره په اقتصادي برخه کې زیات کمک کوي.

2 - د بریښنايي حکومتولۍ په شتون کې د اقتصادی رکود کمزورتیا

دولتونه هغه وخت زیات د اقتصادي رکود سره مخ کیږي چې تر داخلي عایدو یې مصارف دیر وي، نو د بریښنايي حکومتولۍ په مټ دولتونه کولای شي چې خپل ځان د اقتصادي رکود څخه وساتي.

3 - د سپما موجود والی

د بریښنايي حکومتولۍ په مرسته سره هرڅوک کولای شي، په خپلو مصارفو کې کموالی راولي، مثال که یو څوک د کتاب ویلو شوق لري، نو یو کتاب کیدای شي چې ۲۰۰ افغانی بیه ولري، اما هغه کتاب په PDF بڼه ده ته زیات اقتصادي تامیدلای شي، یا مثال یو څوک بهر ته د زده کړې لپاره ځي، نو ورڅخه زیات مصارف کیږي ، نو د بریښنايي حکومتولۍ د ابزارو په مټ کولای شي چې انلاین زده کړه وکړي چې زیاته مؤثره او مثمره ورته تمامیدای شي، یا دولت ددې پرځای چې څوک د ارزیابۍ لپاره یوې پروژې ته واستوي ، هغه پروژه د انټرنیټ پر مټ په انلاین بڼه ګوري. نو ځکه په داسي حالت کې د بریښنايي حکومتولی ابزار او توکي د سپما په برخه کې زیات اقتصادي تامیدلای شي.

**د بریښنايي حکومتولۍ ټولنیزې آغیزې**

بریښنايي حکومتولي خلک د اوسنیو معلوماتو څخه په ډیره ښه بڼه او ژر خبروي، د نړۍ په هر ګوټ چې خبر خپور شي خلک ورڅخه خبریږي.همدارنګه خلکو ته د دوی په شخصي ژوند کې زیاتي اسانتیاوې برابروي، خلک کولای شي چې په انلاین بڼه خپل معلومات شریک او د نورو د حال څخه ځان خبرکړي، بې له کوم محدودیت څخه زده کړې وکړي، په ډیره اسانه توګه سره رایه ورکړي، د خپل ځان او راتلونکي په اړه تصمیم ونیسي، په دولتي او ټولنیزو مسایلو او تصمیم نیونو کې په پراخه توګه ګډون وکړي. ځکه د بریښنايي حکومتولی په واسطه ترسره کیدونکي خدمات دیر ساده ، اسانه ، شفاف، حساب درلودونکي، موثره او مثمره دي، ترڅو ورځځه په مکمل توګه ښآریان ، تجاران او نور عامه وکړي استفاده وکړي. پورته هغه اغیزې وې چې په یوه سیمه د بریښنايي حکومتولۍ په راتګ سره یې بریښنايي حکومتولۍ پر یوه هیواد باندي لري. تر څو هغه هیواد ته پرمختګ ورکړی او په نوی ICT ټکنالوژۍ سمبال هیواد ورڅخه جوړ کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## څوک د بریښنايي حکومتولی څخه زيات اغيزمن کيږي

د بريښنايي حکومتولۍ څخه هغه څوک آغيزمن کيږي چي غواړي بريښنايي حکومتولی په ځان کي راولي، او غواړی د بريښنايي حکومتولي د ابزارو څخه په استفاده وکړي. خو هغه هيوادونه چي د بريښنايي حکومتولۍ څخه استفاده کوي يا يې په ځان کې بريښنايي حکومتولۍ راوستلي ده، نو چي څوک ورڅخه آغيزمن کيږي دا به په لاندې موضوع کې تربحث لاندې ونيسو. [7]

1. ښاريان
2. سياسي اشخاص
3. دولت
4. عامه اداري
5. خدمات
6. ديموکراسي.

### ښاريان

چي په زياته توګه د بريښنايي حکومتولی څخه آغيزمن کيږي ، ځکه په بريښنايي حکومتولی کې زيات تينګار پر دې باندې شوی دی چې ښاريانو ته خدمات په ښه دول سره وړاندي شي هغه که د دولتي سکټور څخه وي او که د شخصي سکټور څخه وي. د ښاريانو لاسرسی و معلوماتو ته همدارنګه د ښاريانو لاسرسی د دولتي پروسو او تصميم نيونو ته هغه څه دي چي ښاريان د بريښنايي حکومتولی څخه آغيزمن شوي دي،يعني که بريښاني آلات نه وي، نو کيدالای شې چي ددي شيانو څخه محروم پاته شي.

### سياسي اشخاص

دا هغه څوک چي په دولت کې پراخه توګه سره برخه اخلي او د دولت په لوړو پوستونو کي قرار لري او د رايې اچوني او نورو طريقو څخه د خلکو ملاتړ د ځان کوي. سياسی اشخاص خپل نظر د بريښنايي حکومتولی په واسطه د تلويزيون ټولنيزي ميډيا او نورو الاتو په مرسته تر خلکو او ښاريانو پوري رسوي. دوی کولای شي چي خپل نظر په ډيري اسانۍ سره تر ښاريانو او دولت پوري ورسوي. بريښنايي حکومتولي دغو اشخاصو ته په ډيره ښه بڼه سره د سياسي موخو په ترسره کولو کې کمک کوي.

### دولت

دولت د بريښنايي حکومتولۍ په مټ د خپلو ښاريانو رضايت له ځانه سره لري. خلکو ته خدمات د بريښنايي حکومتولی د ابزارو لکه انټرنيت، کمپيوټرونو ، ډاټابيسونو او نورو وسايلو پر مټ خپل خدمات خلکو ته وړاندي کوي. خلک اوس کولای شي چي دبرق بيل له تګ او تکليف څخه په اسانه او ارزانه توګه جمع کړي، اداري کارمندان کولای شي، خپل د وظيفي ځينی برخي په خپل د اوسيدو ځای کې په اسانۍ سره ترسره کړي، دولتونه د بريښنايي حکومتولۍ د شبکو WLAN او نورو له لاري په اسانۍ سره يو د بل سره تماس نيسي او خپلي سياسي موخي پالي. نو دولت د بريښنايي حکومتولۍ د خدماتو څخه په زياته اندازه استفاده کوي او د بريښنايي حکومتولی څخه په زياته توګه اغيزمن کيږي.

[7] ايرن. بريښنايي حکومتولي او بريښنايي حکومت.صص. ۱۳-۱۶.

ketabton.com - The Digital Library

**عامه اداري**

هغه ځایونه دي چې په زیاته توګه په ننۍ عصري نړۍ کې بریښنایي حکومتولۍ څخه استفاده کوي او خپلې اکثریت چارې د بریښنایي حکومتولۍ د ابزارو پر مټ ترسره کوي. عامه اداری خپل اداري خدمات د کمپیوټرونو ، انټرنیت ، شبکو او نیټورکونو او نورو ټولنیزو وسایلو په استعمال سره تر سره کوي. عامه اداري خلکو ته خدمات د شپه او ورځ په وړیا توګه د انټرنیټ پر مټ وړاندی کوي، اداری د خپلو همکارانو د همکارۍ ساتلو لپاره د بریښنایي حکومتولۍ د ابزاروڅخه استفاده کوي، ننې عصري کمپیوټري سیستمونه په عامه ادارو کې ترسره کیږي ، د عامه ادارو کارکوونکي خپل میاشتنی معاش د بانکي سیسټمونو له لارې په هرځای کې ترلاسه کوي. عامه اداري په زیاته توګه د بریښنایي حکومتولۍ څخه آغیزمن کیږي. ځکه زیات بریښنایي ابزارو څخه چې کارونه ورته اسانه کوي، استفاده کوي.

**خدمات**

هغه څه دي چې د بریښنایي حکومتولۍ څخه زیات متأثره کیږي، ولي چې هر څوک په خپل کاروبار یا اداره کې کوښښ کوي چې خپل خدمات تر مشتریانو پوري په اسانه توګه سره ورسوي. نو بریښنایي حکومتولي ورته دا استانتیاوي برابروي ترڅو خپل خدمات په ښه کیفیت سره شفاف، پروخت او په موثره او مثمره توګه سره ترسره کړي. د بریښنایي حکومتولۍ په واسطه ترسره کیدونکي خدمات لکه بریښنایي تذکیري، بریښنایي زده کړي، د ډاټابیس استعمال، د شبکو او انټرنیت استمال، انلاین پیر اوپلور، او نور هغه خدمات دي چې د بریښنایي حکومتولۍ په واسطه اغیزمن کیږي.

**ډیموکراسي**

داچې د ډیموکراسۍ په تعریف کې موږ وایو چې د خلکو حکومت د خلکو له خوا پر خلکو باندي ، یعني چې دولت باید د خلکو په خوښه او د خلکو څخه یې خپل مشروعیت او رضایت ترلاسه کړی وي. د اوسنیو بریښنایي وسایلو پر مټ خلک کولای شي د میډیا له لارې په دولتي سیستمونو کې برخه واخلي، خپل اواز پورته کړي، د خپل حق لپاره په ټولنیزو او بریښنایي وسایلو کې دفاع وکړي او هغه چاته د خپلي خوښې سره سم رایه ورکړي چې دوی غواړي پوسټ ترلاسه کړي. د ډیموکراتیک حکومت زیات کارونه د بریښنایي حکومتولۍ په مټ ترسره کیدای شي، سیاسي انلاین کنفرانسونه دایرول، په ټولنیزه میډیا کې د خلکو څخه د نظر اخیستل، پر تلویزیوني شبکو باندې د دولتي پروسو څخه د خلکو خبرول هغه څه دې چې ډیموکراسې یې د بریښنایي حکومتولۍ څخه آغیزمنه کړي ده، ولي چې خلک ورڅخه په دې برخه کې هم زیاته استفاده کوي.

پورته یاد شوي آغیزمن کیدونکي فکتورنه د بریښنایي حکومتولۍ څخه یو د بل سره نیږدې اړیکي هم لري چې موږ کولای شو په لاندي توګه ورڅخه یادونه وکړو.

1 - ښاریان او سیاست مداران : هغه څوک دي چې یو د بل سره نیږدې اړیکي لري یو د بل بشپړ کوونکی دي، ښاریان رایه ورکوي او سیاست مداران حکومت کوي.
2 - عامه اداره او ښآریان : د عامه ادارې ټول خدمات د خلکو لپاره وي ترڅو خلک ورڅخه په اغیزمن او راضي و اوسي.
3 - دولت ، خدمات او ښاریان: کوم خدمات چې د دولت په واسطه ترسره کیږي، د دولت د ساتنې او برپایه کولو او همدارنګه ښاریانو ته د اسانتیاوو برابرولو لپاره دي. [8]

[8] ایرن برمهارډ. بریښنایي حکومتولي او بریښنایي حکومت.صص. ۱۶-۲۱.

ketabton.com - The Digital Library

# دریم فصل

## د برېښنايي حکومتولی آغيزه د خدماتو پر ارايه

کتې متې هماغسې چې معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژي د تجارت د مديريت او کنټرول پر څرنګوالي پراخه اغيز ښيندلی، په هماغه ډول حکومتولي هم په هره برخه کې ترې متاثره شوې. د برېښنايي حکومتولي (يا electronic government) اصطلاح په ټوله کې په حکومتولي کې راغليو تحولاتو او په څه ډول چې دولتونه د کمپيوټر له بيلا بيلو اپليکيشنونو استفاده کوي (يا ممکن استفاده ترې وکړي)، د ليدنې او څيرنې يو طرز دی. په حکومتولي کې د معلوماتي ټکنالوژۍ استعمال په ځان کې د دولتي ارګانونو ترمنځ په داخلي اړيکو کې بدلونونه، تر عامو وګړو پورې د خدماتو رسولو په څرنګوالي کې بدلونونه او له يوه ارګان سره د عام ولس د تعامل په خاطر د نوو لارو چارو ايجادول، رانغاړي. په داخل کې دولتي ارګانونه هم تر ډېره پورې د شخصي شرکتونو په څير د معلوماتو د مديريت او له نورو سره د دې معلوماتو د شريکولو اړتياوې لري، خو دولتي ارګانونه ممکن داسې معلوماتي سيستمونه وکاروي چې د پيچلو او ځانګړو مقرارتو تر چتر لاندې د فعاليت جوګه وي، فرق نه کوي که دغه مقررات د ارګان د مديرانو لپاره وي او يا د نورو لپاره. بل خوا، د دولتونو د خپلواکۍ او مسؤليت منلو معيارونه هم معمولاً د شخصي سازمانونو له معيارونو مختلف هم وي او د هغو په پرتله سخت هم وي. د برېښنايي حکومتولۍ لوی تمرکز پر دې دی چې د خپلو ارګانونو شتون ته په نړيوال جال باندې پراختيا ورکړې او دولتي وېبپاڼې لا مفيدې کړي، چې په دې پاڼو کې د مقرراتو يا د نورو پيچلو معلوماتو لنډيزونه، د انلاين همکارۍ زمينه مساعدول، د ماليې يا نورو برېښنايي تاديو اجازه ورکول او د Social Security يا Medicare په څير پوستغالو د استعمالولو په خاطر د خلکو لاسنيوی راتلی شي.

هلته چې مراجيعن بايد په فزيکي ډول دفتر ته سر ورښکاره کړي، کمپيوټري سيستم کولی شي چې د هغوی لپاره د ليدنو وخت نيول اسانه او په دې ډول په ليکه کې د انتظار وخت يې کم کړي (چې اوسمهال د موټرونو ګڼ دولتي ارګانونه دغه اسانتياوې لري.) يو ځل چې يو خدمت وړاندې شي، له هغه وروسته بايد پرمختګ وکړي، نو يوې خواته که يو شمير خدمات (مثلاً د مالياتو برېښنايي تاديه) د خپلې اسانتيا له کبله پرمختګ کولی شي، بل خوا يو شمير خدمات بيا ډېر زيات ګونګ وي او يا ممکن د ټولنې يوازې يوې کمکۍ برخې ته ګټه ورسوي.

د بريښنايي حکومتولی په واسطه تر سره کيدونکې خدمات بايد ډير مؤثره او پر وخت وي ترڅو وکولای شي د ننې وخت غوښتنو ته ځواب ووايي ، همدارنګه د بريښنايي حکومتولی په واسطه ترسره کيدونکي خدمات بايد ډير مډرن او عصري وي، ترڅو خلک د نوې لارو چارو سره بلد شي او خپل کارونه په اسانه توګه ترسره کړي. ولې چې بريښنايي حکومتولي خلکو ته مؤثره توګه او هم په مثمره توګه خدمات وړاندې کوي او خلکو ته دا اسانتيا ورکوي، چې خپلي ورځنيو چارو پريښودلو ته ضرورت نشته ، اوس تاسې کولای شې، چې د بريښنايي وسايلو پر مټ په هوساتوګه خپل ورځني مشکلات حل کړئ، ځکه چې دا کار کيدلای شي، چې د خلکو لپاره ډير مفيد ولې چې زياته بيروکراسي، او کاغذپراني د رش او وخت د اخيستلو باعث ګرځي، خو بريښنايي حکومتولي دا شيان د ځان سره نه لري. کوم خدمات چې د بريښنايي حکومتولی په واسطه ترسره کيږي، پر وخت او بې له ځنډه او تکليف څخه خلک ورڅخه آغيزمن کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

## د برېښنايي حکومتولي تطبيق

د پيچلو معلوماتي سيسټمونو او اوسنيو ډايناميکو ويب پاڼو د سمبالښت په خاطر په اړينو مهارتونو د سمبال کارمندانو لاسته راتلل اسانه خبره نه ده. د دولتي ګمارنو پروسه تر ډېره بريده بې نظمه او بدليدونکو ضرورتونو ته د غبرګون لپاره ډېره سسته وي او اکثره وختونه حکومتونه له شخصي سکتور سره په سيالۍ کې لاس و ګرېوان وي، ځکه چې شخصي سکتور لوړو استعدادونو ته ښايسته لوړ معاشونه ورکولی شي[9].

په زياترو قضيو کې د جامع برېښنايي حکومتولي تطبيق د دې غوښتنه کوي چې د يوه ارګان پر اهدافو او لومړيتوبونو بيا کتنه وشي. په دې سربېره، د انټرنټي کلچر او بيوروکراسيو ترمنځ هم يو کشمکش روان دی، ځکه انټرنټي کلچر پر دې ټرخي چې معلومات تر دوديزو پولو هاخوا ته انتقال ومومي او بيوروکراسی بيا دا تمايل لري چې معلومات تر خپل ځان پورې محدود او په مرکزي بڼه کنټرول کړي. په دې ټولو خبرو سربېره هم، ان بې له دې چې د ارګانونو د چلښت په ځرنګوالي کې بنسټي بدلون راشي، د يوه مرکزي پورټل په توسط عام ولس ته د معلوماتو رسولو په برخه کې هم پام وړ پرمختګ شوی ، چې دغه پورټل اوس USA.gov او پخوا FirstGov نوميده.

## ټولنيز او سياسي اثرات

د هارټ ټيټر يوې څېړنې ومونده چې د څېړنې ګډونوالو د برېښنايي حکومتولي تر ټولو لويه فايده دا ګڼله چې د حکومت مسؤليت-منته ورسره زياتېږي؛ دوهمه ګټه يې معلوماتو ته پراخه لاسرسی وښوده؛ او شايد هيښوونکي به نه وي چې اسانتيا يې دريمه ګټه وه.

د برېښنايي حکومتولۍ د غورځنګونو يو انتقاد دا دی چې په دې ډول حکومتولي کې د مرکزي همغږۍ او هم آهنګۍ نشت ليدل کيږي او دغه ډول حکومتولي ممکن په داسې ډول تطبيق شي چې دا پکې په پام کې نه وي نيول شوي چې يو ارګان دې ته هم ضرورت لري چې له ټولو ښاريانو سره يو شان، باثباته او بې پرې چلند وکړي. مثلاً، که يو ارګان خپلې سرچينې د خپلې ويبپاڼې په جوړولو مصرف کړي، نو هغه خلک چې انلاين نړۍ ته لاسرسی نه لري، ممکن ګومان وکړي چې د «دوهمي طبقې» خدمتونه ور رسېږي. په تېره بيا د بدمرغۍ ځای دا دی چې له انټرنټ سره ناټرلي وګړي اکثره په داسې بې وزله او منزوي ټولنو کې ژوند کوي چې دولتي خدماتو ته تر ټولو زيات اړمن وي.

## خدمات

خدمات هغه پيژندل شوي کړني دي، چې د مشتريانو دضرورياتو د پوره کولو لپاره وړاندي کيږي، (Stanton) ، يا خدمات هغه کړني، ګټي يا رضايت دی چې د توليد د عرضي لپاره ترسره کيږي، يا هغه کړني دي چې د توليد د ليلام سره ارتباط ولري. (Marketing Association). دا چې خلک په خپل ژوند کي مختلف کارونه ترسره کوي، نو په غير مستقيم ډول سره دی د يو چا لپاره خدمت ترسره کوي، که څه هم کيدای شي ددي لپاره ده ته د ګټي مناسبه اندازه رسيږي او يا هم معاش اخلي ، خو دا کار په مستقيم او يا غير مستقيم ډول سره خدمت بلل کيږي ، خو خدمات د ځانګړتياوو پر اساس همدارنګه د وړاندي کوونکو پر اساس ، همدارنګه د کمپنيو پر اساس ، همدارنګه د سکتورونو پر اساس په مختلفو ډولونو ويشل شوي دي، چې موږ به دلته د ځينو څخه يادونه وکړو.

[9] ضياءالاسلام .شيراني. په افغانستان کي بريښنايي حکومتولي. صص.۴-۷

ketabton.com - The Digital Library

## د خدماتو ډولونه

خدمات په خپل ځان کې زیات ډولونه لري ، خو موږ به دلته د ځینو پر اساس باندي د خدماتو ډولونه ذکر کړو، چې خدمات په عمومي ډول سره د وړاندي کوونکی سکتور پر اساس په دوه ډوله دي، عامه خدمات او شخصي خدمات ،

## عامه خدمات

عامه خدمات هغه خدمات دي چې د دولت له خوا څخه د عامه ډومین یا خلکو لپاره چې تر څو عامه ګټي په کبنې وساتل شي. عامه خدمات د دولت پالیسیاني او پروګرامونه دي چې په عمل کې و آلاتو او کړنو ته اوښتې دي او د دولت د مختلفو برخو په واسطه ترسره کیږي، چې د ښاریانو د استفادي وړ وګرځي. دا باید مهمه برخه ونیول شي چې دلته د عامه خدماتو او د خدماتو د وړاندي کولو ترمنځ نږدي اړیکه موجوده ده. یا په بله خبره سره، عامه پالیسي د غوښتني وړ ده او عامه خدمات د خدماتو د وړاندي کولو هدف دي، یعني دا دغه معنا لري چې عامه خدمات وړاندي کول باید د عامه خلکو او افرادو غوښتني او توقعات په نظر کې ونیول شي. د دغه فعالیتونو نتیجه د دولت د ماشینري په اوسطه د عامه خدماتو وړاندي کول دي، تر څو دا خدمات د عامه خلکو او افرادو د هوسایني او امنیت لپاره استعمال شي، چې دا کار د خدماتو د رسولو په آلاتو سره کیدلای شي. عامه سکتور: هغه سکتور دی چې د دولت له خوا څخه اداره کیږي او خلکو ته عامه خدمات وړاندي کوي، چې په رآس کې یې دولت قرار لري.

کوم خدمات او کړني چې د عامه سکتور له خوا څخه خلکو یا ټولني او ملت ته وړاندي کیږي عامه خدمات دي او خلکو ته په زیاته توګه په وړیا بڼه دي، خو ځیني وخت کیدلای شي چې یو اندازه قیمت ولري، کله چې په یوه سیمه یا هیواد کې عامه سکتور فعاله وي، نو د دولت خدمات هم په ښه بڼه تر ښاریانو پوري سیږي او که چیري د دولت عامه سکتور د نادرۍ سره مخ وي، نو زیات عامه خدمات به د کمزورۍ سره مخامخ کیږي.

دا هغه کړنو ته ویل کیږي چې د خاصو سکتورونو په واسطه د عامه رفاء لپاره د دولت له خوا یا نورو سکتورونو له خوا څخه وړاندي کیږي. عامه خدمات د خلکو او ټولني د هوسایني او نیکمرغی لپاره ترسره کیږي ترڅ، د خلکو لپاره د روځینو چارو پرمخ بیول کي اسانتیا رامنځته شي. دولتونه اړ دي چې د عامه خدماتو په ترسره کي کولو کي زیات پرمختګ راولي، تر څو د خلکو اوسنیو غوښتنو ته ځواب ویونکي وي. ځکه کله چې عامه خدمات خلکو ته په ښه ډول سره وړاندي کیږي نو دولت د خلکو په وړاندي خپل مسوولیت او مشروعیت ترسره کوي.

## شخصي خدمات

هغه خدمات دي چې د شخصي افرادو له خوا څخه د قیمت یا کوم بل هدف لپاره وړاندي کیږي. یا شخصي خدمات هغه خدمات دي چې د شخصي تصدیو له خوا څخه د دولت په اجازه سره ترسره کیږي، چې هدف یې د خدماتو ترسره کول د خاص قیمت پر اساس باندي. شخصي خدمات هغه خدمات دي چې د دولت د پالیسیو او قواعدو مطابق د شخصي افرادو په واسطه وړاندي کیږي، چې د د دولت لپاره یو اندازه ګټه او لاسته راوړنه هم لري، خو داسي خدمات هم شته چې د دولتي سکتور او شخصي سکتور یې په ګډه ترسره کوي، لکه ځیني قراردادونه چې دولت یې مصارف په غاړه اخلي او کار وربادي شخصي کمپنی یا اجوګاني کوي. او د زیاتو خلکو لپاره د اسانتیا باعث کیږي ، ولې ځیني داسي خدمات هم شته چې د دولت له خوا د خلکو د هوسایني لپاره ترسره کیږي خو یوه اندازه قیمت لري، لکه پارکینګونه، د ښاروالیو اکثریت خدمات او نور، ځیني بیا داسي دولتي خدمات سته چې د خلکو څخه هیڅ

ketabton.com - The Digital Library

قیمت هم نه غواړي یعني بیله عوض څخه یې دولت وړاندي کوي، لکه اکثیریت دولتي ساختماني پروژي چي یو پل یا بل څه جوړوي او دهغه لپاره هیڅ قیمت هم نه غواړي.

همدارنګه خدمات د ترسره کوونکي پر اساس هم په دوه ډوله دي، د مسلک اړونده خدمات او غیري مسلکي اړونده خدمات

الف- د مسلک اړونده خدمات

دا خدمات مسلکي خدمات دي چي د هغه افرادو له خوا څخه تر سره کیږي چي مسلکي وي، یعني دغه خدمات چي وړاندي یو مسلک ته اړتیا لري، ولي چي څوک دغه خدمت تر سره کوي باید د هغه اړونده خدمت مسلک هم ولري، چي دا خدمات تجارت مارکیټ، انفرادي، او همدارنګه په زیاته بڼه ترسره کیږي، دا خدمات د غیري مسلکي افرادو له خوا څخه نه شي ترسره کیدالای. دغه خدماتو ته مشورتي او مشکل حل کوونکي خدمات هم ویل کیږي ولي چي یو څوک یو خدمت ترسره کوي ، خو دی خپله د هغه خدمت په ترسره کولو باندي نه پوهیږي ، نو په دغه سي حالت کي مشکل رامنځته کوي، اوس که چیري مسلکي شخص یې وړاندي کول نو بیا دا خدمات ډیر د ګټي اخیستني وړ ګرځیدلای شي، همدانګه دا خدمات د مشوري پر اساس هم ترسره کیدلای شي، ځکه چي د هغه چا د تجربو او مشورو څخه استفاده کیږي چي په دې برخه کي مسلکي وي. دغه خدمات د خاصو پیژندل شوو اشخاصو په واسطه وړاندي کیږي، ځکه چي د داسي خلکو څخه مشتریان ښه راضي وي او کړني په ښه بڼه ترسره کوي، داسي به ډیر لږ پیښیږي چي مسلکي خدمات دي د بې مسلکه خلکو په واسطه ترسره کیږي، مسلکي خدماتو ترسره کوونکي افراد خپلواک وي او د بل چا ملاتړ یا لارښووني ته زیات ضرورت نه لري، او نه د زیات کنټرول او ارزیابی وړ وي، ځکه چي دوی په دې برخه کي مسلکي او تجربي خاوند وي، نو ځکه زیاتي ارزیابي او کنټرول ته ضرورت نه لري، دوی خپل خدمات په لاندي ډول ترسره کوي،

- د خپل مسلک په خاصیت باندي ځان پوه کوي
- د رقابت ضروریات یا مشکلات کموي
- پر خپل مسلک باندي کنټرول لري
- د یو بل سره د خپل مسلک په اړه ښه راشه درشه او تعامل لري. مسلکي خدمات چي د مسلکي افرادو په واسطه ترسره کیږي په لاندي ډول سره دي، ۱- مالي خدمات ۲- اعلانات ۳- تجارتي او مدیریتي لارښووني ۴- انجینري خدمات ۵- بنایي او معماري خدمات ۶- داخلي ساختماني او نور ډیزاینونه، ۷- حقوقي او طبي خدمات ۸- او نور هغه خدمات چي د خاص مسلک پر اساس یې یوازي مسلکي خلک په ښه بڼه ترسره کولای شي.

ب- غیري مسلکي اړونده خدمات

دغه خدماتو مصرفي یا غیري تولیدي خدمات هم ویل کیږي، دا خدمات په مکمل ډول سره یوازي په تجربه او توانایې سره ترسره کیږي معنا هیڅ مسلک او وړتیا ته ضرورت نه لري، دا خدمات هم کیدالای شي چي تجارتي او یا نور غیري تجارتي خدمات و اوسي، خو په دې خدماتو کي هیڅ تجربي ته ضرورت نشته او کیدلای شي، چي د افرادو په واسطه بي له زده کړي او تجربي څخه هم اجرا شي، ځکه چي په دې اکثریت ساده خدمات شامليږي. په دې خدمات کي زیات مصرف په مشر باندي راځي او کاریګر د خدمت په ترسره کولو کي یوازي د اوږي سترپیا لري، نور هیڅ مصرف پري نه راځي او زیات وخت د مشر تر ارزیابي او کنټرول لاندي وي، همدارنګه اکثریت وخت یې وظیفه هم نه وي معلومه او د مشر او مدیر د لارښوونو مطابق خپل کار ترسره کوي.

ketabton.com - The Digital Library

ددي خدماتو ترسره کوونکي اشخاص اکثریت بي سواده او یا هم بي مسلکه خلک وي، او که چیري سواداره هم خو بیا هم دا کارونه کولای شي، ولي چي دا کارونه یوازي توانایي ته ضرورت لري ، نه مسلک او پوهي ته. د دي خدماتو مثالونه کیدلای شي چي موږ په لاندي ډول ورکړو. ۱- د دفتر ضروري شیانو اماده کول، په کورونو، دفترونو او نورو ځایونو کي د پاکولو او صفایي خدمات، ۳- د رخصتي صفر کوونکي کمپنۍ خدمات، ۴- د غذا رسولو او راوړلو خدمات، ۵- ساعتیري کمپنیاني، ۶- چوکیداري او پیره داری خدمات ۷- او نور هغه خدمات چي هیڅ مسلک ته اړتیا نه لري او هر څوک چي توانایي ولري، کولای شی چي ترسره یې کړي.

د خدماتي کمپنیو مثالونه چي کومي کمپنۍ په کومه برخه کي خدمات ترسره کوي، کولای شو چي په لاندي ډول یې ذکر کړو، ۱- صحت اړونده ( هسپتال، دواخاني، پروتیز، د دواو شرکتونه او نورر.) ۲- مسلکي خدمات ( محاسبوي مرکزونه، قانوني او حقوقي اداره، معماري یا بنایي کمپنۍ اونورر) ۳- مالي خدمات (بانکداي، د پانګه اچوني مشورتي اداري، بیمه او نور) ۴- میلمه پالني خدمات ( ریستورانټ، هوټل، بستري او ډوډۍ خدمات، سفري یا سیاحي خدمات، لوبي او نور) ۵- سفر خدمات( هوایي شرکتونه، د سفر نماینده ګۍ، پارکونه او نور) ۶- نور خدمات( سلماني، پټرول پمپونه، د چمنونو ایښودل، مشورتي خدمات، کلبونه، ډیزاني او نمایشي او نور).

**ارایه:**

په تجارب او اداري اولاح کي آرایه هغه کاري جوړښت یا کړنه ده چي د مشتري او وړاندي کوونکي ترمنځ رامنځته کیږي .دا په حقیقت کي د دوو ډلو ترمنځ متقابل عمل دی، چي د وخت په جریان کې چي کوم چي وړاندي کوونکی یا Provider یو خدمت وړاندي کوي او تر لاسه کوونکي یې رانیسي او یا هم ورڅخه آغیزمن کیږي .دا په حقیقت کي هغه څه دي چي د کمپنۍ له خوا څخه و ترلاسه کوونکي ته وړاندې کیږي، چې هغه یې په خپله نه شي ترسره کولای یا هم په خپله نه شي جوړولای .خو دا چي خدمات یا هم تولیدا ت د یوې کمپنۍ له خوا څخه وړاندې کیږي ، نو دا هم د هغه کمپنۍ په پالیسیو اومعیارونو پو رې اړه چي څرنګه ارایه ترسره کړي .دا ضروري ده چي موږ ددې په هکله معلومات تر لاسه کړو چي کمپنۍ او یا هم په لویه سطحه سره دولت خدمات په کوم ډول ارایه کوي. ځینې وخت د خدماتو ارایې لپاره معلومه اندازه مالیه اخیستل کیږي، اکثره خدمات خلکو ته په وړیا ډول سره ارایه کیږي[10]. Indeed.com. 2021

## ارایه څه ته وایي؟

*مشتریانو ته یا د ی وی اداري داخلي پیرودونکو ته د خدماتو چمتو کولو پروسه ده ،چي پکښي دخدماتو ډیزاین،پراختیا،ځای پر ځای کول،او عملي کول شامل دي.

John spacey.Simplicable.com

دخدماتو ارایه

*د خدماتو د ډیزاین یوه پروسه ده چي د چمتو کوونکي لخوا مشتریانو ته و ړاندي کیږي.

*د نفوذ درلودلو او ملکرتیا تکلاره ده.

*خلکو ته خدمات په موثره او موثمره ت وګه تر سره کول عبارت د خدماتو د ارایی څخه دی.

[10] . What is deliver. 2021 **{** http://www.indeed.com**}**

ketabton.com - The Digital Library

*دا هغه طريقه ده چي يو شركت كارونكو ته د ICT خدماتو ته لاسرسی چمتو كوي.چي غ وښتنليكونه،د معلوماتو ذخيره كول او نوري سوداګريزي سرچيني پکښي شاملي دي. IGI Global دخدماتو ارايهن

دولت د عامه خدماتو په پراخ لړۍ كي له عدالت او امنيت څخه نيولي تر فردي وګړو او خصووی شركتونو پوري ټولو ته د خدماتو په و ړاندي كولو كي مهم رول لري .د دوديزو عامه خدماتو سربيره لكه ښوونه او روزنه ،اداري خدمات هم شتون لري لكه جوازونه اخستل او نور...كوم چي داداري اجراتو او مقرراتو تابع دي.

ښه د خدماتو ارايه لپاره لاندي نقاط مهم دين

۱ن حكومت د اتباعو پر بنسټ اداري ته د ودي وركولو ا ړتيا درع كوي.

۲ن ښه اداره د پاليسی يو هدت دی تر څو د عامه خدماتو كيفيت ت مين كړی.

۳ن SIGMA د هيوادونو سره مرسته كوي تر څو دد وی د خدماتو و ړاندي كولو ک ړنلاري ته وده ورک ړي.

۴ن د مقرراتو د پراختيا ،بيا كتني او پلي كولو ملاتړ كول.

۵ن د تشخيصی وسيلو چمتو كول تر څو په ارزونه او بيا ډيزاين كي مرسته وک ړي.

**د خدماتو آرايه**

د هغه وخت څخه چي مدني او ملكي ټولني جوړي شوي دي او خلک په دولت او ټولني كي داخلي شوي دي، نو خلكو د دولت سره د يو ټولنيز تړون پر اساس موافقه كړي ده، نو په دغه وخت كي د خدماتو د وړاندي كولو موضوع مهمه كيږي ، دولت خلكو ته ماليات او د ځانونو واک وركوي او د دوی قانون پر ځان مني، نو ددي په بدل كي دولت خلک او ټولني ته د ځاني او مالي خطرونو څخه د ساتني مسووليت ترسره كوي، نو په دې اساس دولت پر ځان باندي ډير غټ مسوليتونه مني چي بايد په موثره او مثمره توګه يې ترسره كړي. چي دغه غتي دندي ته واقعيت وركړي ، نو عامه خدمات په دې ځای كي د دولت د ماشينري په حيث څرګنديږي.

عامه خدمات د دولت او ښاريانو ترمنځ يو پل جوړ كړی دی( چي د خلكو عمومي غوښتنو ته ځواب ووايي.) يا په بله اصطلاح عامه خدمات د پاليسيو او پروګرامونو د جوړولو او عملي كولو يو مسووليت په غاړه وړي، ددي هدف لپاره چي د عامه رفاء خدمات ترسره كړي تر څو د عمومي ملكيانو د ژوند معيارونه لوړ كړي. عامه خدمات د دولت له خوا د خدماتو په وړاندي كولو كي د داخليدو احساس ته پرمختګ وركوي كوم چي دولت ته يې ګټه نه رسيږي. نو ددي لپاره چي عامه خلک راضي و اوسي د عامه پاليسيو د عملي كولو څخه ، نو د قوانينو قوي كول او د عامه رفاء بهبود د عامه خدماتو مؤثريت ډيروي. د خدماتو وړاندي كول يو ډير لوی كار جوړيږي، ځكه چي دا ملت د جوړولو يو اساسي ساختار څخه نماينده ګي كوي، چي دا د دولت او دولت او خلكو ترمنځ واقعي ارتباط او لينک رامنځته كوي، همدارنګه د دولت ارزښت د خلكو په وړاندي ډيروي، او په اخيره د دولت او كاركوونكي ترمنځ يو بونډ يا تړاو رامنځته كوي. د كومه راهيسي چي د خدماتو مؤثره وړاندي كول د عامه خدماتو نتيجه كيږي، نو دوی ته د دوی د كار ترسره كونه معلوميږي، چي څومره د دوی كار مهم او ضروري دی. [11]

---

[11] Walle and scott 2009

ketabton.com - The Digital Library

نو الغزالي ۲۰۰۸، د خدماتو د ارایې د توناىي لپاره د موثره خدماتو د وړاندي کولو لپاره یو لیست جوړ کړی چي که چیري د خدماتو وړاندي کول موثره وي، نوباید په داسي شکل سره وي لکه لاندي:

- ✓ عامه خدمات باید په داسی شکل سره وي چي د خدماتو او سامان الاتو وړاندي کول باید په لږ قیمت او د وخت پر پام کي نیولو سره ترسره شي.
- ✓ خدمات باید په داسي ډول سره وړاندي شي ، چي ټول خلک په مساویانه توگه ورڅخه استفاده وکړي او په شفاف ډول سره وي.
- ✓ خلک باید داسي احساس ولري چي دولت د دوی اساسي حقوقو ته پاملرنه کوي او دوی باید د ځان څخه د دولت قوانین پر ځان باندي ومني.
- ✓ د عامه خدماتو په وړاندي کولو کي باید د دولت د فیزیکي فشار څخه کار وانخلي او دولت باید خپل حقوقي قوت په ښه ډول استعمال کړي چی خلک يې په خپله خوښه اطاعت وکړي.
- ✓ خدمات باید په داسي ډول سره دولت وړاندي کړي چي خلک هیڅ د بیري او وحشت احساس ونه کړي او په ارامه فضا کي د دولت د خدماتو څخه گټه واخلي.
- ✓ په اخیر کي د دولت هر قضایي پریکړي باید بیله کومه تعصب څخه خلکو ته واورول شي.

نو په اخیره کي د عامه خدماتو وړاندي کولو هیواد په هیواد سره فرق لري، نو دا هغه څه دي چي دولتونه کوښښ کوي چي خپل په خدماتو کي د داسي لارو چارو څخه استفاده وکړي چي د دولت لپاره د خلکو رضایت ډیر کړي او خلک د دولتي خدماتو څخه راضي واوسي، نو ځکه د یو هیواد خدماتو وړاندي کول د بل هیواد سره کیدای شي فرق ولري.

## دولتي خدمات د کومو لارو په واسطه وړاندي کیږي

د خدماتو وړاندي کول د دولت د کلیدي دندو څخه دي. دولت په دي برخه کي تر نورو په زیاته اندازه ښکیل دی ځکه چي دولت هغه ساختار دی چي د کولای شي عامه خلکو ته د امنیت، عامه تنظیم، زیربنایي، مدیریت او لارو ترتیب او نور خدمات وړاندي کړي. نو پورته څیزونه دولت ته دا واک او صلاحیت ورکوي چي پورته خدمات ترسره کړي، دا خو منل شوي خبره ده چي دولت په ټولنیزه سطحه د داسي اساسي خدماتو په وړاندي کولو کي مسووله دی .

(د خدماتو وړاندي کول. جین ایگمین-۲۰۰۷.) د نوموړي پر اساس دولتونه خلکو ته خدمات د لاندي لارو په واسطه وړاندي کوي[12]

- ➢ تعلیم او مکتب: دولتونه اوس خلکو ته عامه خدمات د مختلفو لارو څخه وړاندي کوي چي یو يې هم تعلیمي خدمات دي چي د مختلفو لارو چارو په واسطه يې ترسره کوي، چي د هغو د جملي څخه مفت تعلیم وړاندي کول دي، دولتونه اوس کوښښ کوي چي خلکو ته تعلیمي خدمات وړاندي کړي چي ترڅو خلک د دولت او هیواد په اهمیت پوه شي او دولت په پراخه معنا مشروعیت ترلاسه کړي. دولتونه تعلیمي خدمات د پوهنتونو، مکتبونو، انسټیټونو، انجوگانو، محلي تعلیمي صنفونه، انټرنیټ له لاري ، بهر ته د زده کړیالانو استولو او نورو لارو چارو په واسطه وړاندي کوي.

[12]جین .ایگمین. د خدماتو وړاندي کول. صص. ۳-۹.

ketabton.com - The Digital Library

- ټولنیز امنیت : د دولتونو د لومړنیو دندو څخه چې باید ترسره یې کړي هغه هم د امنیت ټینګښت دی چې باید په ډېره ښه بڼه یې ترسره کړي. دولتونه خلکو ته د امنیت او هوساینې او بې له بیرې څخه د ژوند کولو خدمات وړاندې کوي او خپل امنیتي تدابیر نیسي ، ترڅو خلک ورڅخه استفاده وکړي. په نننۍ عصري نړۍ کې دولتونه امینتي خدمات د مختلفولارو چارو په واسطه ترسره کوي، انټرنیټ له لارې، د کیمرو، امنیتي ګارډونو، استخباراتو او نورو له لارې خلکو ته امنیتي خدمات وړاندې کوي.
- حقوقي حفاظت: دولتونو د خلکو د حقوقو د ساتنې لپاره خلکو ته حقوقي خدمات وړاندې کوي، تر څو په هیواد کې یو فرد پر بل باندې تیری ونه کړي او د هغه د حقوق تر پښو لاندې نه کړي. حقوقي خدمات د دولت له خوا څخه په وړیا بڼه ترسره کیږي ولې دولت دا اړتیاوې د خلکو څخه په مالیاتو کې پوره کوي په غیر مستقیم ډول سره. دولتونو خلکو د حقوقي خدمات د مختلفو وسایلو له خوا ترسره کوي چې د هغوی له جملې څخه د هر ډول قضیې لپاره د محکمې شتون، د مدافع وکیلانو شتون، د حوزو شتون، څارنوالې، شوراوې، پارلمان، قانون ، مسودې، مسوبې او نور شتون لري چې دولت له دې لارو کولای شي چې د خپلو ښاریانو لپاره حقوقي خدمات وړاندې کړي.
- عمومي خدمات: دولتونه خلکو ته په پورته ذکر شویو خدماتو سربیره نور هم زیات خدمات د مختلفو وسایلو په مټ تر سره کوي، چې کولای شو چې په لاندې ډول یې یادونه وکړو، د ښارونو اړونده د خدماتو لپاره د ښاروالیو شتون، غیري انتفاعي اداري شتون، د معلوماتو لپاره د د انټرنیټ شتون، د قراردادونو او پروژو په واسطه زیربنایي کارونه او نور اړوند کارونه ترسره کول، تجارتي جوازوو ورکولو سره د تجارت خدمات وړاندې کول، د ټولنیزې میډیا د کارولو اسانتیا، د خبري اژانسونو په واسطه د حالاتو په واسطه د خلکو خبرول، د صفایې او پاکوونکي خدمات د خاصو کارمندانو او وسایلو په واسطه، د شکایتونو د اوریدلو لپاره د شکایت بکسونو اینښودل او نور زیات لاملونه سته چې دولت خلکو ته د هغو په واسطه خدمات وړاندې کوي، چې ترڅو خلک ورڅخه استفاده وکړي[13].

د خدماتو د طبقه بندۍ مقالې پر اساس د خدماتو د وړاندې کولو لارې چارې چې دولت استفاده ورڅخه کوي په لاندې ډول سره د مختلفو کټګوریو پرمټ ترسره شوي دي چې خدمات وړاندې کوونکي برخې پر څلورو برخو ویشل شوي دي:

1 - دولت د ګټې لپاره: عامه سکتور، د پوسټ دفترونه، اوبه ، پولیس، برق
2 - د دولت د ګټې لپاره نه وي: خیریه بنسټونه، زاړه کورونه، د ښځو اړونده ټولنې، ادبیاتي خدمات، همدارنګه رفاه.
3 - غیر دولتي انتفاعي: تجارتي سکتور، بانکونه، هوټلونه، هوایي شرکتونه، د سفر نماینده ګۍ، بیمه، قانوني، طبي او مشورتي خدمات.
4 - مسلکي خدمات: امنیتي کارکوونکي، حساب کوونکي، تفتیش کوونکي، کمپیوټر کاران اونور.

خدمات کیدلای شي چې په مختلفو لارو وویشل شي، چې د نوموړي مقالې پر اساس یې وړاندې کوونکي لارې د خصوصیاتو له کبله پر اووه ډولونو ویشل شوي دي:

[13] جین.ایګمین. د خدماتو وړاندې کول. صص. ۳-۹.

ketabton.com - The Digital Library

a. د مشتريانو د تداخل د درجي پر اساس- د خلکو په واسطه ترسره کوونکي: چي مشتري بايد موجود وي چي ترڅو د دي خدمت څخه استفاده وکړي، د معلوماتو پروسس- د خدماتو د ترسره کولو يا مصرفولو لپاره د خلکو يا مشتريانو سره بايد وخت، کافي پوهه او معلومات موجود وي.
b. د خدماتو د واقعيت پر اساس: چي ځيني خدمات دي چي ډير ضروري دي البته په اوسنيو وختونو کي د زيات او يا ټوله خلک ورڅخه استفاده کوي، چي هغه د ټليفون خدمت دی چي د ټليفون په واسطه ترسره کيږي.
c. د خدماتو د تر سره کوونکي د مهارت پر اساس: ډير مسلکي خدمات: کوم چي په زياته اندازه سره پوهي ته ضرورت لري، چي دا خدمات د خاصو مهارت لرونکو اشخاصو په واسطه ترسره کيږي، لکه ډاکتران، حقوقپوهان،انجينران، پيلوټان او نور. غيري مسلکي خدمات: هغه خدمات چي زيات مهارت ته اړتيا نه لري، چي ترسره کوونکی يې بايد خامخا مسلکي پوهه ولري، لکه ، د صفايي کارونه، د کوچنيا روزنه او نور.
d. د تجارت اړونده د خدماتو ترسره کوونکو پر اساس: کوم خدمات چي دولت او يا يې هم شخصي سکتور وړاندي کوي، کيدلای شی چي د ګټي د لاسته راوړلو لپاره وي چي وړاندي کوونکي يې دولتي سکتور، تجارتي سکتور، داخلي/مسلکي سکتور، انتفاعي سازمانونه.
e. -د مارکيټ د برخي د استعمالونکو پر اساس: مصرف کوونکي خدمات چي دا خدمات هم کيدلای شی چي د دولتي سکتور او هم کيدلای شي چی د شخصي سکتور په واسطه ترسره شي، کله يو ځل مصرف شي بيا له منځه ځي، چي ترسره کوونکي يې دادي، دواخاني، کلبونه، سوپرمارکيټونه، او نور.
f. د قانون د درجي پراساس: دا هغه خدمات چي د قانون پر اساس باندي ترسره کيږي يا يې بايد ترسره کوونکی خپلي قانوني لاري چاري ولټوي او بيا خپل کار ترسره کړي. چي ترسره کوونکي يې دادي، دولتي کارکوونکي، مامورين، بانکي افراد، بيمي کارکوونکي، حقوقي مدافع وکيلان، او نور..
g. د کارکوونکو د اختراع يا نوښتونو پر اساس: په دې ډله هغه خدمات راخي چي کيدلای شي چي نور افراد يې هم ترسره کړي خو دا خلک يې زيات مهارت لرونکي او مسلکي دي، لکه ډريوران، پاکوونکي، ترميمونکي، کمپيوټري کارپوهان، نباتي ښکلا کارکوونکي، او نور.. نو په پايله کي موږ ويلای شو چي دولت يا هم شخصي سکتور کولای شي چي ټولني او خلکو ته خدمات په يو اندازه قيمت او يا هم بيله قيمت څخه خدمات ترسره کړي خو موږ د خدماتو د ترسره کوونکو په اړه زيات بحث وکړ او هغه خلک چي خدمات ترسره کوي او يا هم دولتونه ورڅخه استفاده کوي، د مختلفو کټګوريو پر اساس مو بيان کړي. ځکه دا ټول هغه خلک او يا هم لاری چاری وي، چي دولتونه کولای شي، د دوی پر مټ خلک کارونه او عامه خدمات ترسره کړي او اوس يې هم وړاندي کوي. نو ځکه دا چي موږ خدمات وپيژندل نو دا به بده نه وي چي ددي خدماتو د ترسره کوونکو په اړه بحث وسي چی نوموړي خدمات د چا له خوا څخه وړاندي کيږي.

## د بريښنايي حکومتولی وسايل:

داچي موږ په دي اړه بحث وکړی چي بريښنايي حکومتولي د خدماتو پر آرايي باندي تاثيرات لري، او کولای شي چي د خدماتو په کيفيت کي پرمختلګ راولي. خو دا پرمختګ يوازي په دولت او خلکو سره

ketabton.com - The Digital Library

نه شي راتللی، دا پرمختګونه د وسایلو پر مټ راوستلای چې دا وسایل په زیاته اندازه د دولتونو له خوا څخه اماده کیږي او کیدلای شي چې د شخصي سکتور هم په کښې د پام رول ولوبوي خو په زیاته اندازه دولت په دې برخه کې ښکیل دی، دا چې موږ د بیښنایي حکومتولی پر پرمختګ او اسانتیاوو باندې بحث وکړی نو چې دا آسانتیاوې په بریښنایي حکومتولی کې د کومو لارو په واسطه راوړل کیږي، په دې اړه بحث کوو، د بریښنايي حکومتولی وسایل او لارې چارې چې خدمات ورڅخه ترسره کیږي، زیات دي خو موږ به دلته د ځینو یادونه وکړو همدارنګه به ددوی د استعمال په اړه هم بحث وکړو چې په کومه برخه کې زیات رول لري او کوم خدمات ترسره کولای شي. خو داسې نه ده چې یوازې همدومره دي، بلکې ډیر زیات دي، خو موږ یوازې د یو څو څخه یادونه کوو:

1 - **انټرنیټ:** دا چې په ننۍ عصري او الیکټرونیکي نړۍ کې د انټرنیټ استعمال ډیر زیات دی، نو د بریښنایي حکومتولی په برخه کې هم ډیر زیات رول لري، چې په لاندې ډول سره به يې وپیژنو: د انټرنیټ د منځ ته راتللو لومړنی نښې نښاې په ۱۹۵۷ م کال کې لټولی شو. دا هغه وخت و چې پخواني شوروي اتحاد په خپله فضایي بیړۍ د سپوتنیک (Sputnik) په نامه کیهان ته ولیږدوله. په همدې وختونو کې د امریکا متحده آیالات هم په دې فکر کې شوه چې څنګه به وکولۍ شي خپلې فضایي پروبې تر ژوءې او دقیقي څارنې لاندې راولي. په ۱۹۶۲ م کال کې د امریکا هایي ځواک و یو تن د Rand paul baran په نامه دې ته وګوماره ، چې که چیرته د امریکا په ځینو ښارونو اتومي برید وشي نو دوی به څنګه د خپلو اتومي توغندویو پروګرام په خپل لاس کې ولرلی شي. [14]

نو دده دله اوږده کار او هلو ځلو وروسته، هوایي ځواک ته د یو داسې نیټ ورک جوړولو مشوره وکړه چې په هغه کې ډیر کمپیوټرونه یو بل سره ترل ي وي او مهم معلومات له یو کمپیوټر څخه بل ته په اسانی انتقال شي. چې لومړی يې د APRA نیټ ورک سیسټم جوړو کړ چې یوازې څلور کمپیوټرونه په کې له یو بل سره تړلي وو او د همدې ایجنسۍ سره د تړاو له امله یې د APRANET نوم ورکړ. په ۱۹۷۳کال کې د DARPA یوې کارکوونکې ډلې چې مشر یې Vinton Cerf و د TCP/IP پروتوکول له لارې په دې بریالی شو چې د کمپیوټرونو بیلابیل نیټ ورک سیستمونه په خپلو کې سره وتړي. په ۱۹۷۴ کال کې د همدغې ډلې لهخوا څخه دې نیټ ورک سیستم ته د Internet نوم ورکول شوو. د انټرنیټ کلمه له دوو کلمو interاو net څخه جوړه ده چې inter د نړیوال او net د جال یا شبکې معنا ورکوي چې مجموعي معنایې نړیواله شبکه ده.انټرنیټ تعریف: د کمپیوټر د نیټ ورکونو یو نیټ ورکی دی، کوم چې د معلوماتو (Data) د استونې له پاره سره ورته ژبه یا پروتوکول کاروي. هغه نیټ ورکونه چې انټرنیټ جوړوي، په ولایتونو، هیوادونو او نړۍ کې خواره دي او هر کمپیوټر چې ددې نیټ ورکونو څخه یوه سره هم تړلي وي د انټرنیټ برخه ده. (Enc.Wiki)

که څه هم انټرنیټ لومړي ځل پّ امریکا کې د ځانګړي نظامي ضرورت له مخې ایجاد شو خو وروسته یې د یو نړیوال جال بڼه خپله کړه او ګرده نړۍ یې د ځان سره په دې جال کې راونغښتله. په دې توګه انټرنیټ نه یوازې د انسانانو ترمنځ د معلوماتو تبادله او اړیکې اسانه کړل بلکې د نړۍ خواره واره تنابونه یط هم رالنډ کړل او دنیا یې په یوه نړیوال کلي واړوله. (انټرنیټ. عبدالهادي مومند .۲۰۱۷.).

[14] Encyclopedia.Wikipedia. ۲۰۰۴،

ketabton.com - The Digital Library

2 - **معلوماتي ټیکنالوژي یا IT :** معلوماتي ټیکنالوژي د ننی بریښنایي حکومتولی یوه برخه ده چي
د دولتونو سره د خلکو لپاره د معلوماتو او معاملاتو په ترسره کولو او وړاندي کولو کي کمک
کوي. د معلوماتي ټیکنالوژي څخه د بریښنایي حکومتولی په برخه کي زیات کار اخیستل کیږي
او تر ډیره بیده هم کامیابه ګڼل کیږي. د هرډول بریښنایي موادو او معلوماتو د رامنځته کولو ،
پروسس، کولو ، ذخیره کولو، بیاترلاسه کولو او تبادلي لپاره د کمپیوټرونو کارولو ته ویل کی.ږي
آی ټي د شخصي یا تفرحي ټیکنالوژیو خلاف معمولا د سوداګریزو عملیاتو په ساحه کي کاریږي.
معلوماتي ټیکنالوژي د معلوماتي او مخابراتي ټیکنالوژۍ )ICT) فرعي مجموعه ګڼل کیږي. د
معلوماتي ټیکنالوژۍ سیسټم (آی ټي سیسټم) عموما یوه معلوماتي سیسټم ، د مخابراتو سیسټم یا
په لا ډیر مشخص ډول د کمپیوټر سیسټم ته د هارډویر، سافټوری او نورو جانبي او الحقي وسایلو
په ګډونو ویل کیږي. چي د آی ټي کارکوونکو د یوې محدودې ډل لخوا پر مخ وړل کیږي دا
اصطلاح عموما د کمپیوټر او کمپیوټري شبکي لپاره د مترادفي اصطلاح په توګه کاریږي، خو
بیا هم د معلوماتو د ویش نورې ټیکنالوژۍ لکه تلویزیون او ټیلیفونونه هم رانغاړي. په اقتصادي
کي ګڼ محصولات یا خدمات له معلوماتي ټیکنالوژۍ سره تړلی دی، چي د کمپیوټر هاډویر،
سافټویر، الکترونیکي توکي، سیمي کنډکټرونه، انټرنیټ، مخابراتي تجهیزات، او اي کامرس
پکي د یادول وړ دي.

3 - **کمپیوټر:** کمپیوټر لکه څرنګه چي مخکي په نامه، هغه شخص تل هڅه کوي چي خپل ژوند اسان
کړي، او له همدې امله د برېښنایي کمپیوټر جوړ، تاسو ته اجازه په چټکۍ سره د اړتیا وړ کړني
ترسره کړي. لومړی د کمپیوټر، او یا په څېړ، په نامه abacus - یو عام شمېرلو تخته. دا ساده
محاسبه ته اجازه ورکوي، او برابریږي وه خورا ساده دي. د لومړي پروګرام د کمپیوټر توکي
د ماشین جوړ شوی او مشهور په 1946 Dzhon Fon Neyman نوم ساینس پوه-ریاضي
وړاندې. د د ټکنالوژۍ مترقي پراختیا، د زیات شمېر نوې پروژې د راڅرګندېدو سره سره، د
لومړي ځل کمپیوټر د اصولو ډېر کارول او عصري وسایل. Von نیومن یوازې کار نه درلود،
خو سره د همکارانو. هغوی په مرسته سره، دا به د د میکانیزم په راتلونکي جوړښت معلوم
کړي. د هغه په وینا، هغه له یوه څخه زیاتو آله لري، سره د بهرنیو په اوږدو کي، پرته له کوم،
هم، نیوله نه شي کولای. دا هغه آله چې د منطقي او حسابي عملیاتو او یا ترسره الوبخارا
(arithmetic منطق واحد) د کنټرول، او یا UU. دا هم ضروري و، او د پلورنځي د پروګرامونو
او د معلوماتو د ځینو حافظه. بهرني توکي د مختلفو معلوماتو دنده او خارجي ترسره کړي.
Dzhon Fon Neyman وړاندیز وکړ چي د حافظې باید په داسي یوې لاره چې د خپلو ټولو
حجری به د یو مساوي ته رابللي او دکمپیوټری نورو توکي موجود وي ترتیب شي[15].
د ریاضي د جوړښت تر څنګ او د لومړي کمپیوټر د اساسي اصولو په ګوته، په لاندې توګه وه.
قوماندانی باید په ترتیب سره د پراسس، هغه څه چې د سافټ ویر د کنټرول د اصل په نامه له
خوا ترسره شي. ټول پروګرامونه، سره د معلوماتو په اوږدو کي په یوه حافظه، چې، په خپل
وار، د حجراتو پورته دی زیرمه شي. د دوی هر یو د خپل شمیر، او بهیرګر په هر وخت کې
موجود دی. دا اصول دي مشاهده کړي، او په ځینو عصري کمپیوټر، چې د "شالید-
neymanskimi" ته راجع کیږي. نو، نیومن دا وویل شي، هغه څه چې دی د یو کمپیوټر د یو
تعریف ورکړ.

[15] Encyclopedia.Wikipedia

ketabton.com - The Digital Library

عصري کمپیوټر: د نن ورځې د ولایتي شوراګانو ستونزه دا ده چې د یوه لوړ سرعت مالومات د استملاک، د پروسس، انتقالول او د ترلاسه کولو معلومات برابر کړي. دا باید د تولید واحدونو د کارکوونکو او مدیریت لپاره مناسب وي. زموږ په وخت کې، د ټکنالوژۍ د لوړ سرعت پرمختګ، د ټکنالوژۍ د نوي ډولونه د راڅرګندېدو په موده کې، د ولایتي شورا ده، که نه د ټولو، نو هر دوهم کس. معمولا دا یو شخصي کمپیوټر چې په دې موخه د وصل د معلوماتو د شبکې، په دې توګه زموږ د ژوند یوه ډېره مهمه برخه ده. اوس د کمپیوټر دی - د معلوماتو اصلي وسیله او په دفتر او په کور کې. نږدې په ټولو کار سره د معلوماتو سره دا ترسره کړي، چې آیا دا د متن پېغام معمول او یوشان او یا د یو تفریحي فلم کتل. د نن ورځې تر ټولو پرمختللي کمپیوټرونه په ماډل کې ستونزې چې نه د کړنو د یو الګوریتم، چې د مصنوعي استخباراتو نوم په څرګند ډول جوړ حل پیچلي بیولوژیکي او فزیکي پروسو لپاره کارول کیږي.

په دې ساحه کې، کمپیوټرونه دي یوازې د خپل پرمختګ پیل، له دې امله چې د کمپیوټر په داسې ستونزو د حل ده، په داسې حال کې چې دا ناشوني خبره ده. د عصري کمپیوټر دي چې د کمپیوټر د څلورم نسل د بې سارې، خو یو شمېر رعیت له دوی پنځم لري. او حقه، نو د سافټ ویر د چټک پرمختګ ورکول. له همدې امله، د دې پوښتنې په واحد، دقیق ځواب نه دی. نو، کمپیوټرونه - دا څه پرته چې نن هر څوک کولای شي نه په عصري ژوند وکړي. (Enc.Wiki)

4 - **برېښنالیک (په انګرېزي: electronic mail یا e-mail)** د لیک تر ټولو چټکه بڼه ده. برېښلیک د هغه کمپیوټر په مرسته چې انټرنټ ته لاسرسی ولري لېږل کېږي. د ایمیېل یا برېښنالیک د څلوېښتمې کالیزې په مناسبت یوې ویبپاڼې (mashable.com) د برېښنالیک د تکاملي یا بشپړتیایي تاریخ د څلوېښتو کلونو ډیزاینونه خپاره کړي دي. برېښنا لیک چې په لومړیو کلونو کې یوازې د یو کم شمېر ساینس پوهانو یا موسسو د ارتباط وسیله وه نن سبا دومره عام شوی چې حتی د ډېرو داسې کسانو لپاره چې ښایي په میاشتو کې یې یوه کرښه خط نه لیکه بې ایمیله ګوزاره ګرانه شوې ده. [16]

ډېر خلک مجبوره دي چې د ورځې څو څو ایمیلونه ولیکي یا د نورو برېښنالیکونو ته ځواب ولیکي . لومړنی برېښنالیک د انفورماتیک یوه انجنیر، چې رې ټامیلسن نومېږي، په ۱۹۷۱ ع کال ولېږه. ده یو کال وروسته د پوهنتونونو لپاره د انټرنټ له لارې د مالوماتو د تبادلې یو خاص سیستم جوړ کړ. رې ټامیلسن په ۱۹۷۱ کال په خپل لومړني ایمیل کې لیکلي وو:qwertyuiop-send (mashable.com) ویبپاڼې د لومړني برېښنالیک په ویاړ د ایمیل د ۴۰ کلن بشپړتیایي پړاو ډیزاینونه خپاره کړي دي. د بریتانیا ملکه دوهم الیزابت لومړنۍ جګپوړې مقامه وه چې په ۱۹۷۶ کې یې برېښنالیک ولېږه. په ۱۹۷۸ کال ایمیل له پوهنتونونو دباندې د لومړني ځل لپاره وکارول شو.

په ۱۹۸۲ کې د ایمیل (e-mail)کلمه د لومړي ځل لپاره وکارول شوه. په ۱۹۸۹ کې په برېښنالیک کې ښه راغلاست (welcome)، ایمل ورسېد(sent)، یو ایمیل لرئ، او خدای پامان عبارتونه ثبت شول چې تراوسه اکثره شته. په ۱۹۹۷ کې مایکروسافټ هاټ مېل (hotmail)او وروسته اوټ لوک (outlook) په انټرنټ کې فعاله کړل. په ۱۹۹۸ کې د سپم (spam) اصطلاح د اکسفورډ په ډکشنرۍ کې شامله شوه. په ۲۰۰۳ ع کال د امریکا د هماغه وخت ولسمشر جورج ډبلیو بوش له سپم سره د مبارزې قانون توشیح کړ. په ۲۰۰۴ ع کال په ایمیل او چټ کې

---

[16] Encyclopedia.Wikipedia

ketabton.com - The Digital Library

کاروېدونکي لنډوني (لکه؛ ru) د اکسفورډ په ډکشنرۍ کې شاملې شوې. په ۲۰۰۷ ع کال ګوګل جي مېل (gmail) د عامو خلکو لپاره وړاندې کړ او په ۲۰۱۱ کې د (e-mail) کلمه په (email) بدله شوه. (Enc.Wiki)

5 - **د سيرچ يا لټون سيستم :** يو سافټوير او هارډوير د وېب له اړيکي سره په ګډه په انټرنيټ کې د معلوماتو د لټون وړتيا برابروي. د لټون ماشين معمولا د هغه سايټ په معنا دی چې د سيستم د اړيکي (مخکې-پای) کوربه‌توب کوي. د لټون د ماشين د سافټوير برخه د لټون انجن دی – د پروګرامونو هغه ټولګه چې د لټون د ماشين فعاليت وړاندې کوي او معمولا د لټون انجن جوړوونکي کمپنۍ سوداګريز راز دی. د لټون ډېری ماشينونه د نړۍ په کچه په وېب سايټونو کې معلومات لټوي، مګر داسې سيستمونه هم شته چې کولی شي د FTP يا د فايل د لېږد پروتوکول د سرورونو فايلونه، په آنلاين پلورنځيو کې شته توکي، او د Usenet خبري ګروپونو معلومات وګوري. د لټون پراختيا د عصري انټرنيټ يو له لومړيتوبونو څخه دی (د لټون انجنونو په کار کې د اصلي مسائلو په اړه ژور ويب مقاله وګورئ). د سټاټيسټا د شمېرو له مخې، د ۲۰۲۱ کال په اکتور کې د لټون د ماشينونو کارول په لاندې ډول وېشل شوي وو:

ګوګل – ۸۶،۶۴ سلنه

بېنګ – ۷ سلنه

ياهو – ۲،۷۵ سلنه د ۲۰۲۱ کال په اګست مياشت کې د سټاټ کاونټر ګلوبل د شميرو له مخې، په آسيا کې چينايي سرچيني بايډو (Baidu) وکړای شول د انټرنيټ د بازار نږدې ۳ سلنه برخه ونيسي. په بدل کې يې بيا په همدې سيمه کې ياندېکس (Yandex) له ياهو څخه وړاندې شو او نږدې ۲ سلنه برخه يې خپله کړه او په ډلبندۍ کې يې دريم ځای خپل کړ.

6 - **ګرځنده ټيليفونونه:** د بشر يوه مهمه اختراع ګڼل کيږي، ځکه چې د مصرفي ټکنالوژۍ يوه تر ټولو ډېره کاروېدونکې او تر ټولو ډېره پلورل کيدونکې برخه ده. ګرځنده ټيليفونونو د محبوبيت له نظره په ځينو ځايونو کې چټکه وده کړې ده، د بېلګې په توګه په بريتانيا کې په ۱۹۹۹ کال کې د ټولو ګرځنده ټيليفونونو شمير د کورونو تر شمير زيات شو. دا مهال ګرځنده ټيليفونونه د نړۍ په هر ځای کې موجود دي او د نړۍ په کابو نيمو هيوادونو کې څه باندې ۹۰ سلنه خلک لږ تر لږه يو ګرځنده ټيليفون لري.

ځيرک ټيليفون : ځيرک ټېليفونونه يو شمير داسې ځانګړنې لري چې له نورو يې بيلوی. د مخابراتو نړيواله اتحاديه د هغو کسانو کچه اندازه کوي چې انټرنېټ ته لاسرسی لري او د موبايل-براډ بنډ فعال ګډونوال يې بولي (چې ټابلېټونه او داسې نور موبايلونه په کې راځي). په پرمختللې نړۍ کې دا مهال ځيرک ټېليفونونه د مخکېنيو ګرځنده ټېليفونونو تر سيستمونو ډېر کارول کېږي. په پرمختللو هېوادونو کې ځيرک ټيليفونونه د ګرځنده ټيليفونونو شاوخوا ۵۰ سلنه برخه جوړوي. (Enc.Wiki)

ساده ټيليفون: د ساده ټيليفون اصطلاح معمولاً هغو ګرځنده ټيليفونونو ته کارول کيږي چې د اوسنيو ځيرکو ټيليفونونو په پرتله يې وړتياوې کمې وي. ساده ټېليفونونه پر ملټي مېډيا، انټرنېټ او نورو لومړنيو وړتياوو سربېره معمولاً د غږيزې اړيکې او متني پيغامونو وړتيا لري. يو ساده ټېليفون تر يوه داسې معمولي ګرځنده ټېليفون ډېر کارونه کولی شي چې يوازې د اړيکو ټينګولو او پيغامونو لېږلو وړتيا لري. ساده ټېليفونونه او ابتدايي ګرځنده ټيليفونونه له يوه اختصاصي او کارن برسېر سافټوير څخه استفاده کوي. د دې پر خلاف، ځيرک ټېليفونونه

ketabton.com - The Digital Library

معمولاً د ګرځنده ټیلیفون له چلوونکي سیستم څخه استفاده کوي چې تر ډېره د ډیوایسونو تر منځ مشترکي ځانګړني سره شریکوي.(Enc.Wiki)

استفاده: ګرځنده ټېلیفونونه د بېلابېلو موخو لپاره کارول کېږي چې د کورنۍ له غړو سره اړیکه ټینګول، سوداګریزې چارې مخته وړل او په بیړنیو حالاتو کې ټېلیفون ته لاسرسی یې د بېلګې په توګه یادولی شو. ځیني خلک د بېلابېلو سوداګریزو او شخصي موخو لپاره تر یوه ډېر ګرځنده ټېلیفونونه کاروي. د بیلا بیلو اړیکو د پلانونو له کتو څخه د استفادې لپاره ګڼ سیم کارتونه کارېدای شي. د بېلګې په توګه یو ځانګړی پلان ښایي څه ناڅه ارزانه ځایي اړیکې، لرې اړیکې، نړیوالې اړیکې یا هم رومینګ برابرې کړي.

روغتیایي اغیزې : د انسان پر روغتیا د ګرځنده ټیلیفونون د وړانګو اغیزې هغه موضوع ده چې په دې وروستیو کې پام ورته شوی او څېړل شوې ده، لامل یې دا دی چې په ټوله نړۍ کې له ګرځنده ټېلیفون څخه استفاده زیاته شوې ده. ګرځنده ټیلیفونونه د مایکرو وېو په محدوده کې له الکترو مقناطیسي وړانګو څخه کار اخلي چې د ځینو په اند ښایي دغه وړانګې د انسان روغتیا ته زیان ولري. په دې اړه د انسانانو او غیر انساني حیواناتو اړوندې ګڼې اپیډیمولوژیکې او تجربوي څېړنې موجودې دي. ډېری دغه څېړنې په انسان کې د ګرځنده ټېلیفون او زیانمنوونکو بیولوژیکي اغېزو تر منځ کومه اړیکه نه څرګندوي. دا څېړنې د هغو شواهدو د توازن په توګه تعبیرېږي چې ښيي د ګرځنده ټېلیفونونو له لارې انسان ته کوم زیان نه رسېږي، که څه هم یو ګڼ شمېر انفرادي څېړنې دغه ډول یوه اړیکه څرګندوي یا هم بې پایلې دي. د ډېټا د ارتباطي شبکو په څېر نور وایرلېس ډیجیټل سیستمونه هم دې ته ورته وړانګې تولیدوي[17].

7 - **باور کارټ :** (په انګرېزي: Credit Card) یا بانکي کارت هغه ارزښتمن سند وي چې د کارت خاوند د دې جوګه کوي چې هر ځای کې وغواړي نو خپل د اړتیا سره سم نغدې پیسې له خپل بانکي ګڼون نه وباسي. همداراز د باور کارت په مرسته په انټرنټي هټیو، بازارونو، او سفري دفترونو کې بېلابېل توکي، او ټکټونه وپېرې. ډېبټ کارډ ډېبټ کارډ ته بانک کارډ یا چک کارډ هم ویل کیږي، دا په حقیقت کې یو پلاستیکي کارډ ده چې بانکي ګڼون ته لاسرسي اسانه کوي ، د توکو د پیر او پلور پر مهال د نغدو پیسو پر عوض هم کاریدلی شي. کچیرې وغواړو د انټرنیټ پر مرسته توکي و پیرو نو په ځینو ځانګړو مواردو کې کارډ پورې اړوند ګڼون نمبر څخه استفاده کوو چې د کارت فزیکي موجودیت ته هم اړتیا نه وي. د ۲۰۰۰ میلادي کال له نیمایی نه را پدیخوا نوښتګرو مؤسسو دا چاره نوره هم اسانه کړې او په یوه ښار یا هیواد کې ویشل شوې کارډونه په بله ساحه یا هیواد کې هم د کاریدو وړ دي. (Enc.Wiki)

د ډیبټ کارډ په مرسته پیسې له یوه ځایه بل ځای ته بې له دې چې بیرته را وګرځي لیږلی کیږي او هم د ATM کارډ په شان له خپل ګڼون څخه د پیسو د ایستلو او اینودلو لپاره کارول کیږي. ځینو هیوادونو کې بانکونه په دې ډول معاملو یا ترانزکشنونو باندی لږ حق الزحمه وضع کوي ، په انګلستان کې تاجران دا ډول چاره مني ځکه دوي غواړی پیسې یې خوندي وی خو عادي مشتریان بیا له دې کاره معاف دي ، همدا شان ډیر خرڅونکي د کوچنیو بانکي معاملو لپاره ډیبټ کارډ نه مني ځکه د جنس ګټه د بانکي حق الزحمې په واسطه له مینځه ځي او دا کار خرڅونکي ته بې ګټې تمامیږي.

---

[17] Encyclopedia.Wikipedia

ketabton.com - The Digital Library

8 - **د خبرتیایي ټکنالوژۍ :** پېژندنه بیلا بیلو پوهانو په بیلا بیلو ټکیو کې کړې ده. خو د یو ټولیز او جامع تعریف لپاره یې څو بېلګې وړاندې کوم:

- پخوا به مو لیکونه، پیغامونه، خبرتیاوې (معلومات) د جارچیانو، قاصدانو، کوترو او پوستې له لارې استول راستول. خو، نن د کمپیوټري شبکې (لکه انټرنېټ) او مخابراتي مزیو او کېبلونو له لارې ستاسې لیکونه د نړۍ په هر ګوټ کې په څو ثانیو کې بل کمپیوټر ته استول کیږي، دغه راز استونه برېښلیك (برېښنالیك) یا electronic mail یا په لنډیز سره Email بلل کیږي.
- پخوا به مو بل ځای له چا سره هممهالي خبرې اترې نشوې کولی. خو نن خپلې نظریې، افکار او خبرتیاوې په عین وخت کې له خپل کمپیوټره په یو ډېر لیرې پراته ځای کې له بل کمپیوټر سره د انټرنېټ له لارې شریکولای شئ. داسې، چې تاسې خپلې خبرې پر خپل کمپیوټر لیکئ او مخامخ لوري یې په همغه وخت کې هلته لولي، بیا هغوی لیکي او تاسې یې دلته لولئ. دې ته برېښبنډار (chatting) وایي.
- پخوا به مو د یوې موضوع، مثلا د افغانستان د تاریخ په اړه معلومات غوښتل، ډېر کتابونه او کتابتونونه پسې لټول؛ خو د خپلې اړتیا وړ مواد نه موندل یا به مو له ډېر کړاو وروسته تر لاسه کړل. او یا به د رخصتۍ ورځ وه، کتابتونونه به بند وو، نه مو شوای کولی خپله څېړنه او تحقیق وکړئ. خو نن کمپیوټر روښانوئ، انټرنېټ ته ورځئ او وېبځیونه لټوئ، هغه کتابتون ته ورځئ، چې له انټرنېټ سره تړلی وي او د خپلې اړتیا وړ مواد په ډېره لږه موده کې ترې لاسته راوړئ. دغه چار وېبپلټنه (web searching) یا وېبلټونه (web browsing) بولي.
- پخوا به مو اسعار بل ځای ته د چا په لاس استول، خو نن د بانکونو تر منځ پیسو راکړه ورکړه او لېږد رالېږد د کمپیوټرونو د شبکو، انټرنېټ او مخابراتي مزیو له لارې په ډېره اسانۍ کیږي. دغه عمل برېښنلېږد (electronic transfer) بلل کیږي.
- پخوا به مو خپل سوداګریز توکي پخپله او د نورو هغه به خپله راوړل. خو نن د سوداګریزو مالونو پېرل، پېرودل او لېږد رالېږد د کمپیوټرونو او انټرنېټ د اسانتیاوو په مرسته کوئ. دې ته برېښسوداګري (electronic business) وایي.
- پخوا به په جرګو، غونډو او ناستو کې د ګډون لپاره سلګونه او زرګونه کیلو متره مزل کاوه. خو نن په یوه غونډه کې د بېلابېلا بېلو ښارونو او هېوادونو وګړي له مزله پرته برخه اخلي. د کمپیوټر، کمپیوټري شبکې او ګڼوالو (digital) کامرو له لارې پېښنه له انټرنېټ سره تړل کیږي او بیا د برېښنایي سیګنلونو له لارې ټولو ګډونوالو ته ور رسیږي. دغه چار ته ویډیويي غونډه (video conferencing) وایي. خبرتیایي ټکنالوژي همدا ده.

د خبرتیاوو همدغه لیږد رالیږدد خبرتیایي ټکنالوژي بلل کیږي او د کمپیوټرونو، کمپیوټري شبکو، انټرنېټ، مخابراتي مزیو (کیبلونو) او نورو اړوندو وسیلو له لارې د خبرتیاوو دغې اسانې، ساده او لږ بیې استونې او ګډونې ته خبرتیایي ټکنالوژي وایي.

پورته ذکر شوي آلات د برېښنایي حکومتولی په برخه کې هغه څه دي چې د پام وړ تغیرات یې راوستلي او خلکو او دولت ته یې د خدماتو د آرایه کولو آسانتیا وړپه برخه کړي ده. خو د برېښنایي حکومتولی په

ketabton.com - The Digital Library

برخه کي پورته ذکر شوي آلات هم بسنه نه کوي، يعني دا آلات او لاري چاري يې آخيرنی حد نه شی بلل کيدلای، د بريښنايي حکومتولی په برخه کي نور هم ډير آلات او ابزار سته چي د بريښنايي حکومتولی په برخه کي په ښه توګه سره کار کوي.

پورته ذکر شويو او نورو آلاتو د هيوادونو پر حکومتوليو په پراخه توګه تاثير کړی او هغوی ته يې زياتي آسانتياوي برابري کړي دي، همدرانه همدغه آلاتو د هيوادونو په حالت او چاپيريال کي د پام وړ بدلونونه رامنځته کړي دي. ولي چي اکثره هيوادونه په زياته توګه که ووايم چي په هره برخه کي د بريښنايي حکومتولی د ابزار او وسايلو څخه استفاده کوي. پورته ذکر شويو آلاتو د انفرادي افرادو او ټولنو په باب هم زيات تاثير کړی دی او خلک يې د نوي بدلونو او نويو څيزونو د استعمال سره آشنا کړي دي، خلک اوس کولای شي چي د بريښنايي حکومتولی د ابزارو په واسطه په لنډ وخت کي په ډيرو شيانو باندي په ډيري آسانی سره خبر شي، همدرانګه بريښنايي حکومتولي خلکو ته په هره برخه کي خدمات وړاندي کوي، که روغتيا، تفريح، روزنه، تعليم، زراعت، اقتصاد او نورو برخو کي ټولني او خلکو ته خدمات او اسانتياوي برابروي.

دا چي موږ د بريښنايي حکومتولی پر اسانتياوو باندي وږغيدلو چي خلکو او ټولني ته يې څومره اسانتياوي رامنځته کړي دي، خو په داسي حال کي چي کيدلای شي چي بريښنايي حکومتولي ځيني تاوانونه هم ولري چي هغه به په راتلونکو برخو کي په منظم ډول سره ولوستل شي. همدارنګه چي د بريښنايي حکومتولی ابزارو د بريښنايي حکومتولی په برخه کي کوم خدمات کړي او ترسره کوي، په دي اړه به هم بحث وشي.

### د بريښنايي حکومتولی لپاره بايد څه وسي:

موږ په مخکي درسونو کي د بريښنايي حکومتولی وسايل وويل چي بريښنايي حکومتولي په کومو لارو سره وړاندي کيږي، خو اوس به موږ په دي باندي بحث وکړو چي په سازمانونو کي بريښنايي حکومتولي لپاره بايد څه وشي، د بريښنايي حکومتولي، د اروپا کنسيل، مقالي پر اساس دولت بايد لاندي کارونه ترسره کړي، ترڅو بريښنايي حکومتولي رامنځته کړي[18].

- ✓ د ICT د استعمال په ډيموکراتيکو پروسو او عامه خدماتو په وړاندي کولو کي بايد د ډير احتياط څخه کار واخلي او بايد په قانوني ډول سره ارزيابي شي.
- ✓ ددي لپاره چي د خلکو حقوق وساتل شي، نو بايد نو ټولي هغه پروسي او کړني چي د شخصي خلکو معلومات په کي ساتي بايد په ډير دقت سره وي، او په هيڅ ډول ورڅخه ضايع نه شي. ټوله هغه څه چي په هغه سره خلک کولای شي، په برخه اخيستنه کي ګډون وکړي، بايد اماده وي ترڅو د دوی حقوق خوندي پاتی شي.
- ✓ د بريښنايي حکومتولي ستراتيژاني بايد د کيفيت منظم کولو يو ګټور سيستم ولري، چي هدف يې د عامه خدماتو پرمختګ او په ښه ډول سره وړاندي کول وي.
- ✓ د بريښنايي حکومتولی ستراتيژاني بايد د پرمختګ لپاره په انلاين او اپلاين ډول سره د کمپاينونه ولري، ترڅو خلک د بريښنايي حکومتولی د خدماتو څخه خبر کړي.
- ✓ د باوروالي يا Authentication ميتود بايد په اعتباري ډول سره منل شوی او محفوظ وي.

---

18 د اروپا کنسيل. بريښنايي حکومتولی .صص. ١٠.

ketabton.com - The Digital Library

- ✓ مناسب ساختمان یا ځای باید موجود وي، ترڅو شخصي، باوري او محفوظه معلومات په ښه ډول سره په امنیت کي شي. (بریښنایي حکومتولی، د اروپا کنسیل، ۲۰۰۴، ۱۰)

## د بریښنایي حکومتولی تاثیرات د خدماتو پر آرایي باندي:

لکه څرنګه چي موږ په دي باندي بحث وکړی چي د بریښنایي حکومتولی په اړه باید څه ترسره شي، نو اوس دا چي ولي باید بریښنایي حکومتولي ترسره شي او همدانګه بریښنایي حکومتولی په واسطه سره د خدماتو وړاندي کول پر خدماتو پر ارایي باندي څه آغیزي لري، ځکه چي موږ ته دا معلومه شي چي موږ بریښنایي حکومتولي په لاره اچوو، نو دا زموږ د خدماتو د ارایي باندي کوم تاثیرات لري، او باید ددي لپاره موږ ته څه په لاس راځي. چي کله موږ ته دا معلومه شي ، نو بیا موږ ته بریښنایي حکومتولي نوره هم اهمیت پذیره کیږي. نو د بریښنایي حکومتولی آغیزي د خدماتو پر ارایي باندي په لاندي ډول سره د مختلفو مقالو پر اساس مطالعه کوو.

د E-government Attributes مقالي پر اساس د بریښنایي حکومتولی تاثیرات او آغیزي د خدماتو پر آرایه کولو باندي په لاندي ډول سره دي[19]،

### الف: آسانه لاسرسی خدماتو ته

د بریښنایي حومتولی په واسطه دولتونه او افرادي کولای شی چي په ډیري اسانی سره خلکو ته خدمات وړاندي کړي. چي په هغه سره به خلک هم راضي وي او هم به یې وخت نه وي ځایه سوی.

### ب: دولتي کړنو کي شفافیت

د بریښنایي حکومتولی مهمه آغیزه چي پر خدماتو باندي یې لري، هغه داچي دولتي خدماتو به خلکو ته په پوره شفافیت سره وړاندي کیږي، ماسیوا د تعصب، پیژندني او واسطي څخه. ځکه چي د بریښنایي حکومتولی ابزار خلکو ته نه بلکي اسنادو ته او کار ته ګوري.

### ج: معلوماتو ته آسانه لاسرسی

د بریښنایي حکومتولی د خدماتو په واسطه سره خلک کولای شي چي خپلو هر ډول معلوماتو په آسانی سره لار پیدا کړي او ژر یې وګوري، که هغه د پوهنتون نتیجه، د انتخاباتو نتیجه، د بستونو اعلان او پایلي او یا هم داسي نور څه وي، خو د بریښنایي حکومتولی په واسطه سره په ډیر لنډ وخت کي خبریږي.

### د: آرام

د بریښنایي حکومتولی خدمات خلکو ته پر وخت او په ډیره ښه توګه سره وړاندي کیږي، یعني دیته ضرورت نسته چي دي خلک دي کاغذان د یوه ځای څخه بل ځای ته انتقال کړي، او یا هم دي د نوبت لپاره په قطار کي ودیریږي، بلکي کولای شي، چي بیله کوم تکلیف څخه خپل کار ترسره کړي.

---

[19] E-Digital Government attributes . کایمبرلي.صص.۱۱-۱۲

ketabton.com - The Digital Library

**ر: د مصارفو کمښت**

بریښنایي حکومتولی د ابزارو په واسطه د مصارفو کمښت رامنځته کیږي، ولي چي په یوه بیروکراتیکه ټولنه کي خلکو څخه زیات مصارف او پیسي مصرفیږي. خو بریښنایي حکومتولی دا ټول مصارف وربچتوي او کولای شي په انلاین بڼه د ده هر کار ته حل پیدا کړي.

**ز: چلنجي او په زړه پوري کار**

د بریښنایي حکومتولی کړني ټولي په ډیره ګټوره او خوندوره توګه سره مخته وړل کیږي، هیڅ کارمند د خدماتو د ترسره کولو په وخت کي د ناارامی خیال نه کوي او نه هم د خپل کار څخه په ډیره اندازه سره خسته کیږي او د خپل کار څخه خوند اخلي.( E-Digital Government attributes، کایمبرلي، ۲۰۲۱، ۱۱-۱۲).

**ح: ګډ حکومت**

د بریښنایي حکومتولی خدمات په داسي ډول سره دي چي په خپل ترکیب کي دولت او ښاریان سره نیږدي کوي چي داسي حکومت منځته راوړي چي خلک او دولت سره یو وي، چي دا د ښه حکومتولی یو مهم فکتور دی[20].

**خ: اسانه عملي کوونه یا کیدنه**

د د بریښنایي حکومتولی د ابزارو په وساطه دولتونه کولای شي چي پر خلکو باندي خپل خدمات په ډیره ښه او آغیزمن توګه په اسانه ډول سره عملي کړي او یا یي هم تر خلکو پوري ورسوي، د بریښنایي حکومتولی په واسطه دولتونه کولای شي د خپلو پالیسیو او قوانینو څخه خلک په ډیري اسانۍ سره خبر کړي.

**ذ: د فساد نه شتون**

د د بریښنایي حکومتولی خدمات په داسي ډول سره خلکو ته وړاندي کیږي چي هیڅ فساد او اخلاقي جرم په کښي کي نه وي، ولي چي په ډیر واضح ډول سره چي خلکو ته هر څه معلومیږي ، دولتونه خلکو ته خدمات وړاندي کوي او د فساد شتون په کي نفي کوي. او هغه لاري چاري فساد پکښي له منځه ځي، رامنځته کوي.

**ه: حساب کتاب درلودل**

د د بریښنایي حکومتولی په واسطه دولتونه خلکو ته خپلو چارو اړونده د حساب کتاب لاري اسانه کوي او خلک د دولت د پآلیسیو او کړنو څخه په اسانۍ سره خبریدلای شي. چي دولت په ډیره ښه توګه سره د خپلو کړنو په وړاندي حساب ورکوونکي کیږي.

**و: پر دولت باندي زیات باور**

د بریښنایي حکومتولی په واسطه د خدماتو وړاندي کولو سره د خلکو زیات باور پر دولت سره کیږي، ولي چي موږ مخکي هم بحث پر وکړي چي د بریښنایي حکومتولی په واسطه ترسره

[20] Benefits of E- governance. شیوانګي پوندیر. صص.۳-۴.

ketabton.com - The Digital Library

کیدونکي خدمات په شفاف ډول سره پر ته له توپیره ټولو خلکو ته په یوشان سره وړاندي کیږي، نو ځکه کله چي د دولت کړني په شفاف ډول سره خلکو ته وړاندي کیږي، نو د خلکو باور هم پر دولت باندي زیاتیږي. ( Benefits of E- governance، شیوانګي پوندیر، ۲۰۱۷، ۳-۴).

## د بریښنایي حکومتولی په واسطه کوم خدمات ارایه کیږي:

د بریښنایي حکومتولی په اوس وخت کي د حکومتونه که ووایم چي ټول خدمات په بریښنایي ډول سره د بریښنایي آلاتو په واسطه سره ترسره کوي، خو موږ به ځیني مهم ځني ولولو چي کیدلای شي، د بریښنایي حکومتولی اهمیت څرګند شي، د بریښنایي حکومتولی پرمختګ ترعنوان لاندي مقالي چي د هوګو ګالیګوس په واسطه وړاندي شوي، بریښنایي حکومتولي لاندي خدمات وړاندي کوي[21]:

**اول: عامه خلکو ته خدمات وړاندي کول**

د بریښنایي حکومتولی په واسطه ټول دولتي چاري چي خلکو ته وړاندي کیږي، د امکان تر حده د بریښنایي حکومتولی په واسطه ترسره کیږي، که هغه ښاروالی، بانکي، مالیاتي، او نور خدمات وي.

**دویم: ښه حکومتداري**

د بریښنایي حکومتولي په واسطه ښه حکومتداري، کله چي موږ په حکومتداري کي د بریښنایي حکومتولی دابزارو په واسطه خدمات ترسره کوو، نو د بریښنایي حکومتولی په واسطه ترسره کیدونکي خدمات ډیر ساده او په ډیر لږ وخت کي عامه خلکو او ښآریانو وړاندي کیږي، کله چي خلک د دولت څخه د خدماتو اړونده راضي و اوسي، نو په هیواد کي ښه حکومتداري رامنځته شوي وي.

**دریم: په ډیموکراسي کي پرمختګ**

بریښنایي حکومتولی په واسطه ښاریان کولای شي، چي په ډیري اسانۍ او ډیر ژر وخت کي خپل نومان وټاکي، همدارنګه د دولت سره په دولتي پریکړو او پروسو کي په انلاین بڼه برخه اخیستنه وکړي، همدارنګه کولای شي، چي ددولتي نوي قوانینو او مصوبو څخه ځان ډیر ژر خبر کړي. (بریښنایي حکومتولی، هوګو ګالیګاوس، ۲۰۰۲، ۵).

د E- government attributes مقالي پر اساس د بریښنایي حکومتولی په واسطه ترسره کیدونکي ځیني خدمات په لاندي ډول سره دي[22]:

## اول: E-filling (بریښنایي ډول سره ډکول)

د بریښنایي حکومتولی پر مټ خلک کولای شي، چي خپل اسنادونه په انلاین بڼه د انټرنیټ په واسطه سره ډک کړي، ماسیوا ددي چي پورمي په هارډ شکل سره واخلي، بیا یې په قلم سره ډکي کړي، او وروسته یې اداري ته وسپاري.

---

[21] هوګو. ګالیګاوس. بریښنایي حکومتولی. صص.۵.
[22] E-Digital Government attributes ، کایمبرلي. صص.۷-۸.

ketabton.com - The Digital Library

**دوهم: د ټولني يوځای والی**

د برېښنايي حکومتولی په واسطه خلک کولای شي، چې د يو بل د حالاتو څخه په ډېر ښه ښه سره ځان خبر کړي او د مرستي، مشکل او نورو حالاتو کي کمک وکړي، همدارنګه د دولت ته د ټولنو په خبراوي کي هم اسانتياوي برابروي.

**دريم: د بحران مديريت**

دولتونه او يا هم شخصي افرادي کولای شي، چي د برېښنايي حکومتولی د ابزارو په واسطه سره په ډېر لنډ وخت کي د بحران رامنځته کيدلو څخه خبر ترلاسه کړي او د هغه د مديريت لپاره کار وکړي.

**څلورم: برېښنايي رايه ورکوونه (e- voting)**

د برېښنايي حکومتولی د ابزارو په مټ خلک کولای شي، چي په ډېري اسانۍ سره خپل د خوښي کانديد ته بيله دي چي په کتارونو کي انتظار وکړي په انلاين ښه رايه ورکړي، چي د برېښنايي حکومتولی په برخه کي ډيره مهم کړنه ده.

**پنځم: د مشتريانو د اړيکو د مديريت سيستم:**

برېښنايي حکومتولی داسي وسايل دولتونو او تجارتونو ته برابر کړي دي چي کولای شی، په لږ وخت کي د خپل مشتريانو غوښتنو ته ځواب ووايي او ددوی د شکايت څخه ځای خبر کړي.

**شپږم: اقتصادي معلومات**

د برېښنايي حکومتولی د ابزارو په دولتونو او تجارتونو ته په ډېري اسانۍ سره خپل د تجارت او خدماتو کيفيت، کړني، توليدات، راکړه ورکړي، او نورو اقتصادي معلومات پيدا کړي او کيدلای شي چي د خپل تجارتونو د ګټي او تاوان د سنجش او مديريت لپاره د ګټورو لارو چارو څخه استفاده وکړي.

**اووم: برېښنايي قانون جوړونه( E- rulemaking)**

دولتونو ته اوس ډېره اسانه ده چي په اسانۍ سره ډيموکراتيکي قوانين جوړ، د خلکو نظر واخلي او بيا خلکو ته په ښه ښه خدمات وړاندي کړي. همدارنګه دولتونه کولای شي چي په ډېر لږ وخت کي خپل د وضعي قوانينو څخه افراد خبر کړي او هم کولای شي چي د برېښنايي حکومتولی وسايلو پر مټ خپل د قوانين د رعايت څخه ځان خبر کړي.

**اتم: برېښنايي زده کړي( E- Learning)**

ډېر مهم کار چي د برېښنايي حکومتولی په واسطه ترسره کيږي ، هغه هم د زده کړيزو خدماتو وړاندي کول دي، په ډېري اسانۍ سره اوس خلک کولای شي چي په انلاين ښه حتي که څه هم په بل هيواد کي وي، زده کړي وکړي. د برېښنايي وسايلو په واسطه سره زده کړي کول په اوسني وخت کي ډېر عام شوي او خلک اوس اړ نه دي، چي د يوه ځای څخه بل ځای ته سفر وکړي. اوس خلک کولای شي، د انټرنيټ پر مټ زده کړي وکړي په خپل کور او يا هم بل د اوسيدلو په ځای کي.

ketabton.com - The Digital Library

**نهم: د معلوماتو ګرندی پيداکوونه:**

په برېښنايي حکومتولی کې خلک کولای شي، چې هر ډول معلومات چې شخصي حريم نه تاواني کوي او عمومي ګټه پکښې کې وي، په ډېري اسانی سره ترلاسه کړي.[23]

**لسم: برېښنايي پېر اوپلور( E- sale)**

اوس خلک کولای شي، چې د برېښنايي حکومتولی د ابزارو په واسطه سره په اسانی سره خپل خوښې وړ څيز په انلاين بڼه واخلي، او دي ته ضررورت نسته چې څوک د يو شي رانيولو څخه د يوه ځای څخه بل ځای ته ولاړ شي، هر څه چې وغواړي کولای شي په انلاين بڼه يې ترلاسه کړي.

**يوولسم: برېښنايي بانکداري( E- Banking)**

خلک اوس کولای شي، چې د بانکونو د خدماتو څخه په انلاين بڼه کار واخلي، ديته ضرورت نسته چې څوک دي، بانک ته ولاړ شي، پيسي راوباسي او بيا خپل ضرورت ورباندي پوره کړي، ځکه چې خلک کولای شي، د ATM ماشينونو په واسطه په اتومات ډول سره په هر ځای کي خپل پيسي ترلاسه کړي او هم کولای شي، چې د يو ځای څخه بل ځای ته پيسي په اسانی سره په کم وخت کي واستوي ماسيوا ددي چې څوک د بانک نماينده ګی ته ورسي.

**دوولسم:برېښنايي بيل( E-Billing)**

برېښنايي بيل جمع کول چې د برېښنايي حکومتولی د مهمو کارونو څخه دي، په زياتو هيوادونو کي ګټه ورڅخه اخيستل کيږي او د خلکو لپاره يې ډېره اسانتيا برابره کړي ده. ځکه که چيري بيل په پخواني کاغذي سيستم سره وي نو خلک ورسره ډېر په تکلف کي وي، ځکه يو وار به بيل ترلاسه کوي، بيا به يې په اړونده بانک کي جمع کوي، خو دا کار ډېر وخت او مصارف هم کيدای شي چې ولري، خو که برېښنايي حکومتولی دا اسانتيا برابره کړي ده، چې خلک کولای شي چې خپل بيلونه په ډېري اسانی سره په انلاين بڼه جمع کړي، يوازي دا نه چې بيل، بلکي هره ډول د پيسو جمع په انلاين بڼه ترسره کولای سي، که هغه د برېښنا بيل، د مالياتو بيل، د حوالي ورکول او ترلاسه کول او نوري اړونده کړني د برېښنايي حکومتولی د اسانتيا وو په وسيله سره په ډېره اسانی سره ترسره کوي.

يوازي دانه چې خلک د برېښنايي حکومتولی څخه پورته ذکر شوي خدمات ترلاسه کوي، بلکي نور هم زيات خدمات سته چې برېښنايي حکومتولي يې ارايه کوي، لکه برېښنايي اعلانات، برېښنايي معلومات، برېښنايي کنټرول او نور سته چې خلک ورڅخه په مختلفو کړنو استفاده کولای سي. برېښنايي حکومتولي خلکو او دولت تر منځ د متقابل عمل يو ډېر ګټور پل دی، ځکه چې خلک او دولت يو د بل سره د خدماتو په ارايه او د معلوماتو په وړاندي کولو کي سره نيږدي کوي، دولت خلکو ته زيات خدمات په ډېره ګټوره توګه په لنډ وخت کي او د خلکو د اړتيا مطابق په مؤثره توګه وړاندي کوي. چې ترزياته حده ورڅخه ښاريان راضي دي او ګټه ورڅخه اخلي.

( E-Digital Government attributes، کايمبرلي، ۲۰۲۱، ۷-۸).

[23] E-Digital Government attributes ، کايمبرلي.صص. .۷-۸.

ketabton.com - The Digital Library

## افغانستان او برېښنايي حکومتولي

په افغانستان کې له ۲۰۰۱م کال وروسته د نړيوالي ټولني په مرسته د نوي نظام په رامنځه کيدو سره، د نظام جوړوني او حکومتولۍ په برخه کې هڅې پيل شوې. د همدې هڅو په لړ کې يو هم د حکومتولۍ په برخه کې له نوې ټکنالوژۍ څخه کار اخيستل چې افغان دولت د نورو هيوادونو په شان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ ( ICT ) په برخه کې ځانګړې توجه درلوده. که څه هم د افغان حکومت له لوري دا ډول هڅې په پرېکړو کې د خلکو د ګډون، معلوماتو ته د لاسرسي د سطحې لوړولو او د عامه خدماتو په برخه کې د شته ستونزو د له منځه وړو په موخه و، خو د ټولو هڅو سره سره لا هم په دې برخه کې افغانستان يو ډېر وروسته پاتې هېواد دی.

دملګرو ملتونو سازمان له لوري د برېښنايي حکومتولۍ په برخه کې د ترسره شوې څېړيني له مخې په ۱۰۸۲م کال کې افغانستان د

۸۹۱هېوادونو په منځ کې ۸۷۱يم ځای درلود او په سويلي اسيا کې تر ټولو ټيټ مقام لرونکی هېواد و.

## د برېښنايي حکومتولۍ په برخه کې ترسره شوي کارونه

افغانستان د برېښنايي حکومتولۍ ډګر ته تېره لسيزه را دانګلي دي او په دې موده يې ځيني ستر کارونه کړي دي، چې دلته يې يادونه ضرور ده:

**مخابراتي سکټور:** په افغانستان کې د ښې حکومتولۍ ډير کارونه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ پر غاړه دي او په دغه هېواد کې په تېرو ۱۸ کلونو کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ سکټور د پام وړ پرمختګ کړی دی. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د معلوماتو پر اساس په افغانستان کې شاوخوا ۱۸ ميليونه خلک چې د ټول نفوس ۱۹ سلنه برخه جوړوي، مخابراتو ته لاس رسی لري .

په دې برخه کې د سيمکارت او د مکالمې بيې هم د پخوا په پرتله را ټيټې شوې دي. دغه راز د همدې سکټور په برخه کې ۱,۱ ميلياړده ډالر پانګونه شوې او اوس مهال ۱۰۰ زره کسان په دغه برخه کې په کار بوخت دي.[24]

**نوري فايبر( Fiber optic):** نوري فايبر چې په اوسني عصر کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې يو مهم سيستم دی او کولای شي چې په يو ثانيه کې له لس ګيګابايټ څخه زيات شی (تصويرونه، غږيز پيغامونه)..... وليږدوي .

---

[24] د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د برېښنايي حکومتولۍ د رياست له آمر، ښاغلي هدايت الحق هدايت څخه ترلاسه شوي معلومات.

ketabton.com - The Digital Library

نوري فایبر یا فایبر آپټیک په افغانستان کې هم د مخابراتو او معلوماتیټکنالوی په برخه کې یوه خورا مهمه پروژه ده، چې په ۲۰۰۷م کال کې د ۷۰ میلیونو ډالرو په پانګونې سره افغان دولت د لومړي ځل لپاره پیل کړه. د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژی د معلوماتو پر اساس، په تېرو ۸۱ کلونو کې د افغانستان ۱۲ ولایتونو ته فایبر آپټیک[25] کېبل غځول شوی دی، چې افغانستان یې له پاکستان، ایران، ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان سره نښلولی دی .[26]

**برېښنایي تذکرې:** د برېښنایي حکومتولی په برخه کې د پېژندپانو برېښنایي کول او د دې لړی پیل په افغانستان کې یو بل مهم کار دی. په افغانستان کې د برېښنایي پېژندپانو د وېش لړۍ د سیمې د ګڼو هېوادونو په کچه نوښت بلل کېږي. که څه هم د برېښنایي پېژندپانو د توزیع لړۍ ډېره ورو روانه ده او تر دې دمه یوازې ۱۰ زره کسانو دغه پېژندپانې ترلاسه کړې دي؛ خو که چېټول هېوادوال دغه پېژندپانې ترلاسه کړي. په ډېری برخو کې به خلکو او دولت ته اسانتیا وې رامنځته شي.

په ټاکنو کې د درغلیو مخنیوی، د ټاکنو لپاره د کارتونو د توزیع یا نوملیکنې د لګښتونو سپما، د هېواد د وګړو د دقیق شمېر معلومېدل ،نړیوال سټندرډ او له هېواده بهر د معیاري پېژندپانې په توګه د کارولو ګټې، په پاسپورت، د موټر چلولو جواز، د موټر ګرځولو جواز ،نکاحخط او نورو خدماتو کې آسانتیا، بهرنیو وګړو له خوا د افغانستان د تابعیت د تذکرو اخیستلو مخنیوی، د یوه کس له خوا د څو تذکرو اخیستلو او ورته نورو درغلیو او اداري فساد مخنیوی، د جنایي جرمونو کنټرول او د مجرمینو په پېژندلو کې آسانتیاوې او داسې نور ټول هغه موارد دي، چې د برېښنایي حکومتولۍ د بنسټ په توګه د یوه دولت لهخوا د خدماتو وړاندې کولو، مالیاتو ورکولو او راټولولو، اقتصادي ودې او پرمختیا، پالیسیو جوړولو او نورو برخو کې خورا مهم او د وخت اړتیا بلل کېږي.

**د افغانستان ځانګړی ډومین ( af ):** ډومین په انټرنیت کې د یو چا د پیژنګلوی لپاره د هغه د ویب سایټ نوم دی. د نړۍ اکثریت هېوادونه د خپل نوم د سر د حروفو څخه په انټرنیټ کې د ویب سایټونو د پټو لپاره ځانګړی وروستاړی لري. افغانستان هم یو له هغو هېوادونو څخه چې د خپل نوم تر ورستاړي لاندې ډومین لري.

پر دې ټولو سربېره په افغانستان کې له نوې ټکنالوژی څخه په کار اخیستلو د یو شمېر دولتي ادارو ځینې سیستمونه برېښنایي شوي دي، چې له امله یې په چارو کې آسانتیا رامنځته کړې ده:

[25] فایبر آپټیک ته نوري فایبر هم ویل کېږي. دا ډول کیبلونه د لرې سیمو او لارو لپاره د چټک انټرنېټ او اطلاعاتو رسونې په موخه کارول کېږي .د نوري https://vestanet.ir/what-is-fiber-/ فایبر په اړه نور معلومات دلته ولولئ

ketabton.com - The Digital Library

## ستونزې او خنډونه[27]

**د ځانګړي هاسټنګ نه درلودل:** افغانستان تر اوسه نه توانيدلی دی چې خپل هاسټنګ[28] سرور ولري. د بريښنايي حکومتولۍ يوډيره اړين وسيله هاسټنګ بلل کيږي، ځکه ټول معلومات چې په بريښنايي حکومتولۍ کې ښکته او پورته کيږي په هاسټنګ سرور کې ثبت او ذخيره کيږي. په اوس مهال کې ژوندی مثال يې د ويبسايټونو او انټرنيټي اپليکيشونونو دی چې د هيواد په دننه کې رغيږي او د نورور هيوادونو لکه پاکستان، هند، ترکيه، جرمنی، امريکا او داسې نورو هيوادونو په سرورونه کې ذخيره کيږي .

**د پوهاوي نه شتون:** په افغانستان کې د بريښنايي حکومتولۍ په برخه کې يوه ستره ستونزه په دې اړه د خلکو نه پوهاوی دی .سره له دې چې د افغانستان ميليونونه وګړي مبايل او انټرنيټ ته لاس رسی لري؛ خو په دې برخه کې د پوهاوي نه شتون هغه څه ګڼلی شو، چې د برښنايي حکومتولۍ سيستم يې اغيزمن کړی دی. ځکه انټرنيټ فعالول يا خلکو ته موبايل يا سيم کارت ته لاسرسی د بريښنايي حکومتولی په معنا نه دي، بلکې دا يوازې د خلکو په خپل منځ کې د اړيکو وسيله کيدای شي .

موږ لا هم داسې خلک، حتی لوستي ځوانان لرو چې ځيرک مبايل لري او انټرنټ هم کاروي؛ خو نه شي کولای له همدې وسيله دندې د درخواست کولو، يا بل کوم لپاره ترې کار واخلي.

**د انټرنيټ کمزورتيا او د بيو لوړوالی:** سره له دې چې افغان حکومت وايي نوري فايبر کيبل يې ډيری ولايتونو ته وصل کړی دی؛ خو دلته لا هم د انټرنيټ کمزورتيا او د بيو لوړوالی يې يوه لويه ستونزه ده. زموږ په ګاونډي هيواد پاکستان کې د ټيټ سرعت انټرنيټ ۱ ام بي دی او لوړ يې ۱۲۰ ام بي، په افغانستان کې لوړ انټرنيټ ۱ ام بي دی او قيمت يې د مياشتې ۲۰۰۰ افغانۍ کيږي.

**د ډومين د قيمت لوړوالی:** که څه هم د افغانستان په خپل نوم د ډومين درلودل يوه لاسته روارنه ده؛ خو د بين المللی نرخونو په پرتله يې قيمت لوړ دی. د ډاټ اي ايف قيمت ۲۰ ډالره او ډاټ کام ډاټ ای ايف[29] قيمت ۱۰ ډالره دی په داسې حال کې چې د ډاټ کام[30]قيمت په نړيواله سطحه ۸۰ ډالره دی چې د خصوصي سکتور لپاره ګرانه تماميږي.

**د دولتي مامورينو پوهاوی:** د افغانستان په يو شميږ ادارو کې لا هم مامورين له کمپيوټر او انټرنيټ سره بلدتيا نه لري او خپلې چارې د قلم له لارې د قاغذ پر مخ ترسره کوي. په ځينې ادارو کې د بهرنيو موسسو او يا هم خپله دولت له لوري مامورينو ته کمپيوټر اخيستل شوي، خو له بده مرغه په کارونه يې نه پوهيږي او يو ځنګ ته يې ايښي وي[31].

له ۲۰۰۱م کال وروسته په افغانستان کې د نوي نظام په رامنځته کيدو سره د حکومتولۍ نوی بنسټ کيښودل شو او له تيرو ۱۸ کلونو راهيسي د حکومتولۍ د ښه کولو په برخه کې زياتې هڅې شوې

[27] ضياءالاسلام. شيراني. په افغانستان کي بريښنايي حکومتولي.صص. ۶-۱۱.
[28] هاسټنګ هغه ځای دی چې حکومت، تجاران، او عام خلک خپل ويب سايټونه او د هغه ډيټا هلته ذخيره کړي .

[31] ضياءالاسلام. شيراني. په افغانستان کي بريښنايي حکومتولي. صص. ۶-۱۱.

ketabton.com - The Digital Library

دي؛ خو جګړه او په افغانستان کې سیاسي بې ثباتي هغه دوه مهم فکتورونه دي، چې د په دغه هېواد کې یې د بښې حکومتولۍ پر وړاندې خنډونه رامنځته کړي دي.

د بښې حکومتولۍ په برخه کې افغانستان لا هم زیات کار او هلو ځلو ته اړتیا لري، تر څو خپلو خلکو ته په سمه توګه خدمات وړاندې کړي. په تېرو ۱۸ کلونو کې د برېښنایي حکومتولۍ په برخه کې د افغان دولت هڅې د پام وړ دي؛ خو دا یوازې د یوه اوږده مزل وهلو لپاره څو ګامه بللی شو. اړتیا ده چې دا ګامونه زیات او په سمه توګه واخیستل شي.

د برېښنایي حکومتولۍ په برخه کې تر ټولو مهم د افغانستان لپاره د له نوې تکنالوژۍ سره د خلکو بلدتیا او د ځانګړي هاستنګ سرور درلودل هغه دوه فکتوره دي، چې د برېښنایي حکومتولۍ لپاره لاره خلاصوي او اجازه ورکوي چې په دې برخه کې په سمه توګه کار وشي

(ضیاءالاسلام شیراني، قاصد څېړنیز مرکز، په افغانستان کې بریښنایي حکومتولي، ۲۰۱۹، ص. ۶-۱۱).

## مخابرات په افغانستان کې:

د لومړی ځل لپاره په افغانستان کې د افغان بی سیم مخابراتی شرکت د مخابراتی سیستم په اډانه کې د ګرځنده ټیلیفون خدمات د طالبانو د واکمنۍ پر مهال پیل کړل. دې شرکت د خپل کار په لومړیو کې وکړای شول چې د نړۍ تر ټولو ګران بیه ګرځنده ټلفون خدمت وړاندی کړی او په افغانستان کې د دې سکتور د واکمن په توګه یې خورا زښته پانګه تر لاسه کړه. د افغان بی سیم مخابراتی شرکت خپل سیم کارت څه د باندې ۴۰۰ ډالره پلورو. خو په ۲۰۰۶ زیږدیز کال کې د صنعت سکتور وروسته تر ټولو زیاته پانګه اچونه د مخابراتو په سکتور کې تر سره شوی وه.

تیر لمریز کال څه د باندې ۶۰۰ ملیونه ډالره د مخابراتو په برخې کې پانګه اچول شوی ده او دې سکتور په همدې کال نژدې ۵۰۰۰۰ کسانو ته د کار زمینه برابره کړی وه. همدا ډول د مخابراتو وزارت د څرګندولو له مخې دې وزارت په ۱۳۸۱ کال کې یو ملیون ډالر، په ۱۳۸۲ کال کې ۱۲ ملیون ډالره، په ۱۳۸۳ کال کې ۲۰ ملیونه ډالره، په ۱۳۸۴ کال کې ۶۷ ملیونه ډالره او د ۱۳۸۵ هجری لمریز کال تر پای پورې ۱۰۰ ملیونه ډالره عواید تر لاسه کړی دی. دا وخت په افغانستان کې د افغان بی سیم، روشن، اریبا، اتصالات، افغان تیلی کام، افغان تیلی کام، افغان پوشش، وصل تیلی کام او شاهین تیلی کام شرکتونه په مخابراتی ډګر کې په فعالیت بوخت دی. همدا ډول د مخابراتی خدمتونو د لا ښوالی او ارزانه کیدو په موخه د مخابراتو وزارت د لمریز فایبر پروژه پیل کړی ده. د دې پروژې د بشپړیدو سره، چې دری کاله وخت به ونیسی، د مخابراتی اړیکو کیفیت به پیاوړی شی او همدا ډول بیې به راټیټې شی[32].

دا وخت په افغانستان کې نژدې ۳ ملیونه وګړی د ګرځنده ټلفون خدماتو ته لاسرسی لری او نژدې نیم ملیون وګړی انټرنیټ کاروی. د مخابراتی خدمتونو وده لامل شوی ده چې نړیوال شرکتونه هم په افغانستان کې په دې برخه کې د پانګې اچونې لیوال شی. دا وخت افغان بی سیم، روشن، اریبا او اتصالات شرکتونه د ګرځنده تلفن خدمتونه وړاندی کوی، همدا ډول په دې وروستیو کې د افغان ټیلی کام دولتی شرکت ته هم اجازه ورکړل شوی ده، چې د ګرځنده تلفن د خدمت تر څنګ داسې سیم کارتونه وویشی، چې د انټرنیټ د خدمتونه عرضه کړی. د مخابراتو وزرات وایی، چې د هیواد ۳۴ ولایتی مرکزونه او

[32] ضیاءالاسلام. شیراني. په افغانستان کي بریښنایي حکومتولي.صص. ۱۱-۶.

ketabton.com - The Digital Library

تقریبا ۸۰ ولسوالۍ يې د ټيليفون او اينټرنيټ سره تړلی دي او تمه ښايي، چې ډير ژر به د افغانستان ټولې څه د باندې ۳۰۰ ولسوالۍ د تلفيون او اينټرنيټ سره ونښلوي.

که څه هم د دې ولسواليو خلک شکايت لري چې د مخابراتو وزارت هرې ولسوالۍ ته شل ليکه ټيليفونونه ورکړي دي، چې اکثره يې په دولتي ادارو کې کارول کيږي. سره د دې چې په افغانستان کې د مخابراتي سيستم وده د پامه غورځولي نشو، خو لا په دې برخه کې ځيني ستونزې تر سترګو کيږي چې د يوې خوا د خلکو پر اقتصاد ناوړه اغيزه کوي او له بلې خوا پر ملي اقتصاد:

**الف: لوړه بيه**

د دې ګرځنده ټيليفونو د اړيکې نيولو بيه ډيره لوړه ده، چې شايد په سيمې کې سارې ونلري. له يو مخابراتي شرکت څخه بل مخابراتي شرکت ته د هرې دقيقې بيه ۵ او څه باندې پنځه افغانۍ ده. د هرې دقيقې مکالمې اوچت قيمت لامل کيږي، چې د خلکو پر اقتصاد منفره اغيزه وکړي، نو ښايي چې د مخابراتو وزارت د هرې دقيقې د مکالمې بيه راټيټه کړي.

**ب: د ماليې اخيستل**

ځيني مخابراتي شرکتونه له خپلو مشتريانو څخه هر مياشت ۵۰ افغانۍ د ماليې په ډول اخلي. د سارې په توګه روشن څه د باندې نژدې يو مليون مشتريان لري او هره مياشت يو ډالر د ماليې په توګه د خپلو مشتريانو څخه ګرځوي، چې په مياشت کې يو مليون ډالرو ته رسيږي او په دې ډول د دولت ماليه د دې پر ځای چې په خپله ورکړي د خپلو مشتريانو د حساب څخه دولت ته سپاري.

**ج: ټيټ کيفيت**

که څه هم دا وخت د ګرځنده ټلفون څلورو شرکتونو په عملي ډول کار پيل کړی دی. خو د دې شرکتونو د اړيکو کيفيت ډير ټيټ دی. د اتصالاتو پرته، چې دا مهال يې په رسمي توګه کار پيل کړی نه دی، دری نور مخابراتي شرکتونه د خبرو پر مهال غوځيږي او د مشتريان د ستونزو سره مخامخ کوي. په ټوليزه توګه د دې مخابراتي شبکو اړيکې رڼې نه دي. د خلکو د ډيرو شکايتونو له امله د مخابراتو وزارت اړ شوی دی، چې د شکايتونو د اوريدو په موخه ځانګړی شميره معرفي کړی ده.

**د: انحصاری پانګه اچونه**

د څلورو شته ګرځنده ټلفيونو څخه څلور واړه شرکتونه په بهرنۍ پانګې په کار پيل کړی دی. دا شرکتونه يا د څو توکميزو شرکتونو پانګه او يا هم مستقيمه بهرنۍ پانګه ده. دا شرکتونه هغه پانګه چې د خلکو له جيبونو څخه راکاږي، بهرنيو بانکونو ته ليږدوي او په دې ډول هيواد د پانګې د کموالي سره مخامخ کوي. هغه څه چې دا شرکتونه د ماليې په نامه دولت ته ورکوی د دوی د عايداتو په برابر کې آن د شميرلو وړ هم نه ګڼل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

# پایله

ددې څېړنې څخه موږ دې پایلې ته رسېږو چې برېښنايي حکومتولی د خدماتو پر ارايي باندې مثبتې آغېزې کړې دي او خدماتو په ترسره کولو کې يې آسانتیا رامنځته کړې ده. برېښنايي حکومتولی د خدماتو د ارايي په برخه کې په مختلفو برخو کې که اقتصادي وي، که تجارتي وي، که دولتي وي ، که شخصي وي، او که نورې برخې اسانتياوې رامنځته کړې دي. اوس خلک ماسیوا ددې چې په کتارونو کې انتظار وکړي او د نوبت ته تر ساعتونو او ورځو پورې کښېني، په ډیرې چټکۍ سره او په ډیر لنډ وخت کې خپلې چارې مخته وړلای شي.

همدارنګه د برېښنايي حکومتولی نور ابزار لکه برېښنايي تذکیرې، پاسپورټ، برېښنايي بانکدارې، برېښنايي راکړه ورکړه، برېښنايي استخدام، برېښنايي وظیفې، برېښنايي زده کړې او نور خدمات په دې برخه کې د یادولو وړ دي، چې خلکو ته يې د استفاده لارې اسانه کړې دي.

د برېښنايي حکومتولی په واسطه ترسره کیدونکي خدماتو آرایه کوونه په ډیره مؤثره ډول سره ده. ځکه کله چې موږ د بیروکراسۍ بحث کوو، نو د زیاتو مصارفو او وخت ځایه کولو په اړه بحث کوو ، خو برېښنايي حکومتولي هغه څه دي چې خدمات په اسانه ډول او لږ مصرف سره په دیر کم وخت کې خلکو ته رسیږي. ددې مقالې پر اساس دولتونو لپاره د برېښنايي حکومتولی په واسطه د خدماتو وړاندې کول چې په ګټوره توګه سره دي، د خلکو او دولت ترمنځ يې واټن راکم کړی دي، خلک د دولت هر ډول معلوماتو ته چې شخصي حریم نه وي ، رسیدلای شي او ډیر زر ځان ورڅخه خبرولای شي، چې دا د برېښنايي حکومتولی د خدماتو مهم اهمیت دي. برېښنايي حکومتولي د ابزاو په وسیله د خدماتو آرایه ډیرې آغیزې لري چې د هغو څخه د خدماتو آرایه کول په اسانه توګه، په شفاف ډول سره د خدماتو وړاندې کول، د وخت سپما رامنځته کول، د مصارفو سپما رامنځته کول، د حساب او کتاب شتون د خدماتو په هکله، د خدماتو موقفیت ترلاسه کوونکو ته، د کړنو د جذابیت شتون، د ښو پایلو ترلاسه کول او داسې نورې آغیزې د یاودنې وړ دي چې برېښنايي حکومتولي يې د خدماتو پر آرايي باندې لري.

ketabton.com - The Digital Library

## وړاندیزونه

خلک د برېښنایي حکومتولی د مختلفو ابزارو څخه د مختلفو هدفونو لپاره استفاده کوي. لکه د زده کړي لپاره، د تجارت او کاروبار لپاره، د امنیت او حفاظت لپاره، د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره، د دولتونو د عمومي ګټو د ترلاسه کولو لپاره، د وظیفي ترسره کولو او پیداکولو لپاره همدارنګه د دولتونو لپاره د شفافي رایي ورکوني او داسي نورو مواردو لپاره برېښنایي حکومتولي د وسایلو څخه استفاده کوي.
خلک اوس دي ته اړ نه دي چي د یو کوچني کار لپاره دکاغذ پرانی سیستم مخته یوسي. ځکه چي د کارغذ پرانی یا بیروکراسی مخکینی سیستم د خلکو وخت مصرفوی، مشکلات یې پیداکول او دزیات فساد لامل کیدل، خو د ۱۹۹۰ څخه وروسته دولتونو په ډیري چټکی سره د برېښنایي حکومتولی په لوري ګام ایښی دي او د زیات هلو ځلو څخه وروسته اوس د برېښنایي حکومتولی د ابزارو څخه په استفاده اوس دولتي او شخصي خدمات ترسره کوي چي د پخوانیو سیسټمونو په پرتله ډیر ازښتمن او کامیابه دي. داسي نه چي اوس نوره هڅه نه کوي په دي برخه کي ، بلکي د برېښنایي حکومتولی به برخه کي د لازیاتو هلو ځلو لپاره کوښښ کوي چي نور هم د خلکو او ښاریانو همدارنګه دولتونو لپاره د خدماتو د آرایي په برخه کي اسانتیاوي رامنځته کړي.

أ. **دولت ته:** دولت ته مي دا سپارښتنه ده چي په خپلو اداري او سیاسي چارو کي د برېښنایي حکومتولی څخه استفاده وکړې.

ب. **ټولو ملکي ادرو ته:** دملکي ادارو څخه مې دا غوښتنه ده چې خلکو ته خپل خدمات د برېښنایې حکومتولی د ابزارو په واسطه ورسوي. تر څو خلک ورڅخه په آسانی استفاده وکړې.

ج. **راتلوونکو محصلینو ته:** د راتلونکو محصلینو څخه مې دا غوښتنه ده چې د برېښنایي حکومتولی د ابزارو څخه استفاده وکړې او په راتلونکي کې د ( برېښنایي حکومتولی تاثیرات د خدماتو بر مؤثریت باندي) موضوع وڅېړي. ترڅو دوی او نور محصلین د برېښنایي حکومتولی د خدماتو د وړاندي کولو د مؤثریت څخه خبر شي.

ketabton.com - The Digital Library

## مأخذونه


1. ایګمین. جین. (۲۰۰۷). د خدماتو وړاندي کول. VGN نړیوال. ص. ۶-۹.
2. بکاس. مایکل. (۲۰۰۱). بریښنایي حکومتولي او پرمختګ کوونکي هیوادونه. ریسرچ رپورټ. ص. ۷-۹.
3. بنارډ. ایرن. بریښنایي حکومتولي او بریښنایي حکومت. (۲۰۱۴). ص. ۱۹-۲۲
4. بتنګر. سباش. (۲۰۱۴) . عامه خدماتو وړاندي کوونه. د آسیا پرمختیایي بانک. ص. ۵-۱۰.
5. پودیر. شیوانګي. (۲۰۱۷). د بریښنایي حکومتولی ګټي. نړیوال د ساینسي ټیکنالوژۍ جورنال. ص. ۳-۴.
6. خرګند. نورعلي. (۱۳۹۸). د سیمیزو حکومتونو اداره. عرفان کتاب پلورنځی. ص. ۵۱-۵۳.
7. روسي . ستنیا. (۲۰۱۵). د بریښنایي حکومتولی ګټي او تاوانونه. نړیوال د بازار موندني او ټیکنالوژۍ جورنال. ص. ۲۰-۲۸.
8. شوبا. ډاکټر دي. د خدماتو پیژندنه. www.service.com. ص. ۹-۲، ۳۰.
9. شیراني. ضیاءالاسلام. (۲۰۱۹). په افغانستان کي بریښنایي حکومتولي. قاصد خیرنیز مرکز. ص. ۵-۱۲.
10. کنسیل. اروپا د وزیرانو کمیټه. (۲۰۰۴). بریښنایي حکومتولي. د اروپا کنسیل. ص. ۱۰-۱۱.
11. کولاول. حافظ. (۲۰۰). عامه خدمات او د خدماتو وړاندي کول. ریسرچ ګیټ. ص. ۱-۲.
12. ګرونلنډ . ایک. (۲۰۰۴). د بریښنایي حکومتولی پیژندنه. ریسرچ ګیټ. ص. ۷-۲.
13. ناز. رافیه. (۲۰۰۹). بریښنایي حکومتولي د پرمختللي خدماتو د وړاندي کولو لپاره. ساینسي څیړني. ص. ۵-۸.
14. واسب. شاکر. (۲۰۱۹). په افغانستان کي د بریښنایي حکومتولی حالت. ریسرچ ګیټ. ص. ۲۰۶.
15. هوران. توماس. (۲۰۰۴). د حکومتدارۍ د تاریخچي پیژندنه. د معلوماتي سیستم کمیسیون. ص. ۱-۵.

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*